Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پهٔ نامه د رحمان او رحيم خدای



# د يويشتمې پيړۍ

# دوزخ

د پاکستاني فوځي زندان او بهر ملکي زندانونو قيامت خيز داستانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترتیب

وروستی بېرغچي هم ولوېد/پروفېسور محمود مرهون

## دوړومبی څپرکی

- د مبارزې ډګر: د کړاوونو په سلسله کښې د زندانونو لړۍ

## دوېم څپرکی

- په بحرین کښې زنداني کېدل

## درېم څپرکی

- د پاکستاني فوځي زندان قیامت خېز داستان

## څلورم څپرکی

- د ګیله من وزیر د زنداني داستان یو نظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وروستی بېرغچي هم ولوېد

تېلېفون مې و رېږدېده، چې خلاص مې کړه د ګيله من مېسج ؤ اواز ئې پرې اېښی ؤ.

سلامونه! استاد مرهون محترم صاب! جوړ يې، په خېر يې صحت دې ښه دی؟ يعني ستا دا رايه ده چې د کتاب په دا يو مخ په ښتی دې مکمل دا عکس راشي يعني دا بل شيان دې ترې ها خوا شي که څنګه کار فرض کړه؟

موږ د هم دې ستاسې په لاسو کښې پراته کتابه په اړه خبرې کولې. دا د کتاب د چاپ وروستی مرحله وه، په دې اړه مو مخکښې ډېرې نورې خبرې او قصې له هغه وروسته او د مخه هم درلودلې. زموږ خبرې له هغه وروسته شروع شوې چې کله دی د بحرين څخه وروسته د رياست له زندانه ازاد شو، موږ ډېر مشترک مخامخ پر تېليفون او سپېسونو بحثونه سره کړي وو. مګر تر دغه پېغام يو ساعت وروسته مې لومړی خبر وليد چې د اولسي شاعر او د پښتون ژغورنې غورځنګ مخکښ غړي ګيله من وزير باندې حمله شوې. زه له هم هغه لومړی پوه وم چې نه پاتې. درې علته وو چې دا مې حسول لومړی دا چې د ظالم رياست د کور مخ ته دونه ښکاره واضح او مخامخ مزاحمت بېخي لوړه سربازي او سرتېري وه د هر چا د وس کار نه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر د ګیله من سرکښي، اروا او پښتنانهٔ غرور لهٔ پېله خان قرباني بالهٔ. دوهم علت دا ؤ چې پر محکومه خاور تر ټولو لویه مبارزه او تر ټولو درنه او خطرناکه جګړه د فکر او نظریاتو جګړه ده. دی خپله د کتاب پهٔ یوه برخه کښې چې څو واره ئې پهٔ خبرو کښې هم وئیلي دي وائي: "ما د ریاست یوه میجر ته وئیل: هغه جنګي مخالفین چې پهٔ جنګ کښې دې نیولي دي تر ما کم رېړوې وائي: دهٔ راته وئیل هغه یو کس دی و به وئلم قصه ئې خلاصه شوه مګر تهٔ پهٔ یواځې ځان بسته لښکر پاڅولی او جوړولی شې ستا مرمۍ ګرځي لګي نهٔ بلکې خلک را پاڅوي".

دریم علت هم د ابر قدرتونو پهٔ وړاندې قیام او سرکښي وه، د هغه بیرغ، وطن او تاریخ اواز پورته کول وو چې ابر قدرتونو او ریاست عملاً تر ګونډو لاندې کړی او بسته هېواد ئې پهٔ سپینو بسترګو او مخامخ قبضه کړی او هېڅوک هېڅ نهٔ ورته وائي.

ګیله منِ د یوه نوي، پُر امنه او لوی افغانستان د ښکاره تصویر یو شفافه تابلو وه. هغهٔ د پښتنانهٔ قوم مبارزه پېل کړې وه، مګر هدف ئې ډېر واضح ؤ چې د لوي افغانستان پهٔ جوړېدو ئې خپل ارمانونه لاس ته راوړلي بلل. مګر یوه خبره ډېره عجبه او واضح وه چې دا شیان ئې پهٔ خبرو نهٔ بلکې پهٔ عمل کښې پهٔ ښکاره توګه مخامخ تر سره کول وئیل او کول ئې. دونه ښکاره او واضح خطرناکه وه چې ما لهٔ ټولې ملګرتیا او یارانې سره څو ځله شک پر کړی ؤ مګر کله مې چې ئې د زندان نا خوالې، ولیدلې ګوته پهٔ غاښ پاته شولم چې دا څونه کلک سترګی او بې ډاره دی، مګر د هغهٔ څخه ډار ځنګه ورک شو د دې خورا عجبه علتونه وو چې ځیني ئې ما ته خپله وئیلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوه دا خبره وه چې دهٔ همېشه کول، وئيل تر غلامۍ پهٔ مرګ راضي يم. نو کهٔ غلام ژوند کوم يا غلام مرم دا دواړه شرم دی، نو بيا پهٔ نره مخامخ او ښکاره بغاوت تر ټولو ښه دی دغه لومړی بغاوت لهٔ خوارۍ او غريبۍ لهٔ کاره را ويستی او کله چې ئې د رياست زندان کاټ کړ تر پخوا ډېر کلک او سنګ زړهٔ شو. روانشناسي وائي چې يو څوک دومره وډاروه چې ډار ختم نهٔ شي دهٔ ته ئې دومره سختې جزاوې ورکړې چې لهٔ دهٔ بېخي ډار ورک شو لهٔ رياست سره ئې دونه ښکاره ډغره وهله چې د ډار يوه زره نهٔ وه پکښې.

موږ چې کله د دهٔ پهٔ اړه ږغېږو څلور متفاوت اړخه موږ ته پهٔ لاس راځي. يو ګيله من او د هغهٔ مبارزه ده، دوهم د دهٔ اهداف دي، دريم د دهٔ شهادت درسونه موږ ته او څلورم څهٔ کول پکار دي.

لومړی، ګيله من د خپل لنډ عمر تر ټول شاهکار او بې بديله مبارزؤ. دهٔ د افغان او بالخصوص د ويارمن پښتون اولس يو وياړلی کېرکټر وړاندې کړی. يو مبارز، ساده، پر کورنئ (مور، لونو، زامنو، مشرانو او کشرانو) يو مهربانه او زړهٔ سوانده انسان. د ټولو پښتنو پهٔ څېر ښځو ته د تقدس تر حده درناوی او عزت چې پهٔ هغې کښې د هغو ازادئ، زدکړې او حقوق ټول نغښتي وو.

يوه سوله خوښی، پُر امن، زيږ پر سندرو، ټوکو، اتڼونو او خوښيو مئين ځوان چې پهٔ خپله به ئې لهٔ هرې بدې پېښې وروسته دا پهٔ زوره زوره زمزمه کول:

لاليه! دا خو انقلاب دی زړهٔ به نهٔ ماتوې!

يو ورځ به داسې شي خبر چې ګيله من شهيد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو حقوقو طلبګار او په کلکه تر دې حده غوښتونکي چې پر هم دې حقوقو ئې سر قرباني کړي او د لوی بابا احمد شاه ابدالي دا خبره ئې و زباد له:

پر ننګ مړ خو څۀ مړ نۀ دی
د بې ننګه ژوند جفا ده
لاس به وا نۀ خلم لۀ ننګه
چې پر ننګ پاته دنیا ده
چې سر پرې کړي احمد شاه
د هغو مینه رښتیا ده

د هغۀ مبارزه څلور برخې لري. لومړی پر انساني محور ولاړه او د ټولو انسانانو تر منځ ورته حقوقو درلودلو مبارزه ده، چې دۀ پۀ خپله شاعرۍ کښې ئې ډېر تمرکز پرې کړی دی. دوهم د لوی افغانستان مبارزه ده چې لۀ پېر روښانه را پېل تر خوشحال خان خټکه لۀ خوشحال خان خټکه تر اپېي فقیره، کاکاجي صنوبر او ترنګزو حاجي صاحبه پورې او بیا هم داسې تر لوی نیکۀ میرویس خان نیکۀ رحمت الله علیه پورې چې د لوی افغانستان بنیادونه ئې کښېښول بیا هغه ارمان لوی احمد شاه بابا پوره کړی دغه فکر وروسته هم ډېر و پالل شو، خو ګیله من دوه ایډیاله درلودله چې هغه غازي امان الله خان او ډاکټر نجیب الله او تر ډېره ځایه ئې بنیاد پر افغاني نیشنلزم باندې ولاړ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم محور ئې افغانيت او پښتونواله چې څه نه څه بحث مو ئې لوږ وکړې، ولې د دۀ يو متفاوت ټکی دا ؤ چې بالاخر دې پايلې ته رسېدلی ؤ چې لوی وطن ايجاد او امن نۀ شي د پښتنانۀ کور به هم داسې ګډ وډ وي. نو ځکه دی د بېرغ تر ټولو نر، مخامخ او کلک ساتونکی ؤ چې د افغانستان پۀ تاريخ کښې نۀ دی ليدل شوی. هغۀ پر افغان ملي بېرغ دونه مئين ؤ چې د کور پر ټولو غړو او خان ئې فرض کړی ؤ او جالبه دا وه چې د شهادت پۀ وخت هم لۀ دۀ سره څلور بېرغه ما ته معلوم دي چې وو. د افغانستان رنګ تسبيح، کيلي بند، دست بند او بټوه. دا چې نور څونه ور سره وو پۀ دې نۀ يم خبر.

دريم او کلک محور چې تر اخري ساه پکښې و جنګېدۀ هغه د پښتون غوښتنې تحريک ؤ چې د هغې پۀ اړه بحثونه، ليکنې او شعرونه، مبارزې، هڅې، کارنامې او وېناوې ئې دونه دي چې يو لس ساعته مستند فلم پر جوړېدلی شي.

څلورم محور ئې د افغانستان تر ناورين وروسته د محکوميت څخه د افغانستان د اولس د خلاصېدو محور ؤ چې د دۀ درې نور محورونه ئې زيانمن کړي. دغه څلور سره محوره د رياست او د ابر قدرتونو د ګټو خلاف وو نو ځکه ئې د خاموشولو هر ډول کوښښ وکړی شو پۀ پېسو، وظيفو، ډالرو او نورو نۀ شوه نۀ يو اخې يوه لاره ور پاته شوه، شهيد ئې کړۀ.

دوهم د دۀ اهداف دي کۀ څۀ هم چې پۀ پورته بحثونو کښې مونږ څۀ نۀ څۀ اشاره ورته وکړه ولې ډېر لنډ واضح به وليکم د لوی افغانستان جوړېدل. د لر او بر افغان يو ځای کېدل. د ټولو افغانانو فردي او ټولنيزه ازادي، د افغانانو سيالېدل او تر ټولو اهم لۀ رياسته د خپل غيور اولس خلاصېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه برخه د دهٔ شهادت موږ ته دري مسئلې ډېرې واضحې کړې. لومړۍ ریفرنډم او خاموشه ریفرنډم پر دې وشو چې لر او بر یو افغان اولس دې او ډېورنډ کرښه هېڅوک پهٔ رسمیت نهٔ پېژني د دهٔ شهادت د نړۍ پهٔ هر هېواد او هر براعظم کښې پهٔ دې نعره واخستل شوه چې لر او بر یو افغان او لوی افغانستان دا د سلو څخه د زیاتو کالو پهٔ وړاندې یو ښکاره غېر رسمي رېفرنډم ؤ. دا ئې ثابته کړه چې محکوم پښتون نهٔ پخوا لهٔ ریاست سره ؤ او نهٔ هم اوس دی بلکې دوي پهٔ زور او جبر محکوم کړی دی.

دوهم ریفرنډم دا ؤ چې نړۍ ته ثابته شول چې پښتون متشدد نهٔ دی پر پښتانهٔ تروریزم او تشدد تپل شوی او دسیسه ده څکه هر چا پهٔ امن اواز جګ کړی او دا اواز لا روان دی. او دریم ریفرنډم او درس دا ؤ چې هر څونه سوله ایزه مبارزه او چغې ووهو ژوند کولو ته مو نهٔ پرېږدي بندیانوي مو، خوږوي مو، ورکوي مو او بلاخره د خپل لستوني پهٔ مار مو چیچي او پهٔ شهادت مو رسوي.

څلورم اوس څهٔ کول پهٔ کار دي. موږ ډېرې جنازې وکړې محسود شهید شو، پاڅون ئې وزېږوهٔ وروسته عارف وزیر ووژل شو، بیا لوني پهٔ شهادت و رسؤل شو او بیا عثمان کاکړ پهٔ شهادت و رسؤل او دا دې خپل ملي شهید ګیله من مو هم لهٔ لاسه ورکړو. دا قصه نوې نهٔ ده دا قرنونه کېږي روانه ده، ګر چه مبدا ئې لهٔ پیر روښان او روښاني تحریکه ښکاري چې مغلو شهیدان کړل، ختک او کورنۍ ئې هم داسې مغلو وخپل او د تاریخ جبر بیا د انګرېز پهٔ بڼه را څرګند شو او څو نور مخونه ئې واغوستل او لا روان دي مګر افغان اولس او پښتون قام هېڅ د عبرت درس ترې وا نهٔ خسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون ریاست او د ریاست شا ته پټ د نړۍ ابر قدرتونو ته فتوا هم په لاس ورکړه، پښتون "اټم بم" هم ورته جوړ کړي، پښتون ئې د هند او کشمیر جګړې ته هم و خېژوۀ، په پښتانۀ ئې خپل کور افغانستان هم خراب کړ، مګر پښتون لا هم د پېسو، چوکیو او اقتدار په نشو مست پردي ډول ته ناځي افغانان چې د ملا تېر او نېشنل ازم بنسټ ئې پر پښتون قام ولاړ دی تر څو د خپل مستقل هېواد غم و نۀ خوري د ریاست نۀ بلکې د ریاست د مالک او ابر قدرتونو لوبه درک او د لوبې په وړاندې یو ځای و نۀ درېږي هېڅکله به ښه ورځ و نۀ ویني او ابر قدرتونه به ئې د کرنل امام، حقاني، عبدالقادر خان او نورو په څېر لومړی تر سپیو بتره استعفاده کړي او وروسته به ئې د نا معلوم افرادو په وسیله خپله ووژني.

لنډه دا چې زما د مبارزې ورور د لوی افغانستان ارمان ژن پر افغان خاوره مئین، د بېرغ وروستی ساتونکی، په دنګ سر بېله تسلیمی او سر ټیټۍ مستانه مرګي ته په غېږ ورغلی او لکه د عظمت او سر بلندۍ یو دنګ مینار را و غورځېدۀ مګر داسې را و غورځیدۀ چې ژوند ئې خلک پاڅول او په شهادت ئې خلک لۀ پاڅېدو وروسته پر حرکت را وستل او هم دې ته د ملت، ملي او لوی شهید وائي چې ژوند او شهادت دواړه ئې د افغان او بالخصوص پښتون قام د درد دوا شول او دا لازه لا نوره ګرمه او سره شوه.

خبرې ډېرې زیاتې دي مګر تر دغه خبرو دا دویر داستان او د ریاست جبر چې دۀ په خپل روان قلم او مخامخ لیکلی دی تر ټولو زیات مهم دي. خوشحاله یم چې د خپل شهید ارمان ژن ملګري وروستی ارمان د خپلو یارانو بالخصوص "کتاب کور" په همت تر سره کېږي، خو کاشکې چې دا زیری مې په ژون... ور کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړومبی څپرکی

## د مبارزې ډګر

## د کړاوونو په سلسله کښې د زندانونو لړۍ

کله چې "پښتون ژغورنې غورځنګ" په وجود کښې راغی زما دوه کاله د مسافرۍ پوره کېدل. د عربو په یو کوچني هېواد بحرین کښې د "پښتون ژغورنې غورځنګ" د پېلېدو سره ما د دغه غورځنګ لمن له حد زیاته کلکه ونیوله. د ټولنیزو رسنیو له لارې ما د پاکستاني ریاست په ادارو فوځ، ائي ایس ائي، پولیس او نورو محکومو بېخي سختې نیوکې د تقریر او شعر په شکل کښې شروع کړې. په هره موضوع به وار په وار په خپله فیسبوک پاڼه په ژوندۍ بڼه راتلم، دغه خپرونې به میلیونونه کسانو تعقیبولې. د پاکستاني ریاست اصلي څهره او د پښتنو سره ظالمانه رویه به مې هم پښتنو ته او هم نړۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ ګوته کوله. پهٔ ډېر لږ وخت کښې ما پهٔ لر او بر کښې میلیونونه مینه وال / تعقیبوونکي پېدا کړل. ځکه چې ما د کوزې پښتونخوا د پښتنو سره د شوي ظلم د بیانېدو سرهٔ سره د لر او بر افغانانو د یووالي او ورورولۍ د پاره هم شعارونه بېخي کلک پورته کول. کهٔ یو خوا د پاکستاني ریاست ظلم بیانول جرم ؤ، ولې بل خوا د افغانانو د یووالي خبره لهٔ هغې پهٔ سل ځنده زیات جرم او خطرناکه عمل ؤ. د پاکستاني ریاست د ظلم او ستم ټول داستانونه مې پهٔ زړهٔ وو خو د "پشتون ژغورنې غورځنګ" لهٔ مخه زمونږ سره هېڅ داسې مضبوط سنګر نهٔ ؤ چې مونږ پهٔ ډاډه زړهٔ او پوره باور خلکو ته د پاکستاني ریاست د جبر داستانونه بیان کړي او څرګند کړي وې. ځکه چې د دې لهٔ مخه به دې فقط د پاکستاني ریاست مخالفه یوه خبره هم نهٔ شوه کولې، کهٔ چا به کوله یا مرګ یا زندان به ئې برخه ؤ. خو لنډه دا چې زما درې کاله پوره شول پهٔ سفر کښې، پهٔ دې وخت کښې به ما ته لهٔ پاکستانه پهٔ رنګ رنګ شمېرو زنګونه راتلل. د مرګ، زندان او بې عزته کولو دهمکې به ئې راکولې. پهٔ وزیرستان کښې به زما کورنۍ ته بار بار د پاکستاني ادارو کسان راتلل پهٔ کور دننه به ئې رنګ رنګ دهمکې ورکولې، د مرګ ګواښونه به ئې ورته کول. یوه ورځ نهٔ بله ورځ به ئې زما مشر ورور او ترونه خپلو کېمپونو ته وړل، دا چې دهمکې او دهمکیانې لهٔ حد سېوا شوې نو ما ته خپلې کورنۍ ووئیل چې تهٔ وطن ته داسې زر مهٔ راځه ځکه چې دلته د پاکستاني حکومت ارادې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته ښې نهٔ دي. نو یو خوا خو زهٔ پهٔ سفر کښې تنګ وم بل خوا د وطن تګ لهٔ خطرونو ډک ؤ.

پهٔ دې وخت کښې ما ته پهٔ وټساپ د الماراتو نه د خوست دوو ملګرو مېسجونه وکړل چې مونږ غواړو چې د ویزټ (یعني د چکر ویزه) د یوې میاشتې در ولېږو او اماراتو ته پهٔ چکر راشې. نو ما هېڅ بله نهٔ وکړه دستي مې ورته ووئیل چې سمه ده. ما فکر وکړ چې یو خو به دا معلومه شي چې پهٔ هوائي ډګرونو خو به ممنوع نهٔ وم، بل به لږ نوی هېواد او نوي ملګري ووینې دا د زړهٔ تنګون به دې کم شي. لنډه دا چې پهٔ لسو ورځو کښې دننه اماراتو ته د ابوظهبي پهٔ هوائي ډګر ور داخل شوم. کله چې اماراتو ته ورسېدم نو پهٔ اماراتو کښې مېشتو پښتنو بیا پهٔ خاصه توګه د بر وطن افغانانو دومره مینه راکړه چې پهٔ صفت کولو به ئې یو جلا کتاب ولیکل شي. زما حوصله ئې ښېخي د پامیر د غر غوندې مضبوطه کړه. ما به چې ځان ته کتل او د لر او بر افغانانو مینه به مې کتله نو حق حېران به شوم. زړهٔ کښې به مې وئیل چې د دغه قام پهٔ ننګ خو چې سل ځله مړ شې نو مړ نهٔ یې. لنډه دا چې مبارزې ته ئې نور هم سخت وهڅولم او پیاوړی ئې کړم. څو ورځې تېرېدې ځای پهٔ ځای به پهٔ ما زرګونه پښتانهٔ را چاپېرېدل او رنګ رنګ محفلونه به ئې راته جوړول صحبتونه، ډوډۍ او پروګرامونه شروع شول. اخر د اماراتو د حکومت هم راته پام شو او پهٔ اماراتو کښې مېشت د پاکستاني ریاست غلامان هم پهٔ حرکت کښې راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ مازیګر له 'العین' څخه 'ابوظهبي' ته ووتو په لاره کښې مو په یو کښې هوټل ډوډۍ وخوړه، د ماسخوتن د ډوډۍ نه چې روان شو د ابوظهبي په سیمه کښې د اماراتو د خفیه ادارو (یعني سي ائي ډي) ګاډي را پسې شول. نیم مخکښې او نیم وروستو شول، هارنونه ئې وهل او په موټر ئې د ودرېدو ټینګار کوه. موټر چې ګاډۍ یوې خوا ته کړ نو سمدستي راغلل زما دروازه ئې را خلاصه کړه، وئیل ئې چې 'ته را ښکته شه او زموټر سره به ځې'. ملګرو مې ووئیل چې هم دغسې وکړه. زه را ښکته شوم او د دوي ګاډي ته وختم، روان شو. د سفر په دوران کښې د دوي لهجه او خبرې ښېخي سمې وې، خو د یو ساعت سفر نه وروستو چې د موصفې شرطي مرکز ته ورسېدو نو د دوي لهجه یو دم بدله شوه. زه ئې یوې کمرې ته ور پورې وهلم، وئیل ئې چې 'لاسونه دېوال ته پورته کړه'، او د ناموس ښکنځلې ئې شروع کړې، د تفتیش او خبرو نه پس ئې د موصفې مرکز زندان ته واچولم. هلته نور بلها پښتانه مسافر زندانیان وو، هم را ته خوشحال شول هم را باندې خوابدي شول. په دې زندان کښې له دوو ورځو وروسته ئې یوې بلې ستړې قضیې ته یوړم. ستره څکه وه چې زما په غوږونو شور له حد زیات راتلو. کله چې ئې ورسولم نو یوې کمرې ته ئې داخل کړم. سترګې ئې را خلاصې کړې، مخامخ دنګ سړی ناست ؤ. اول په عربي ژبه شروع شو خو زما عربي ژبه له هغه تېزه وه نو د دوه وار خطا شو دستي ئې ووئیل چې "بھائی جان! بات سنو" یعني په اردو ئې ووئیل "چې خبره واوره!" ما ورته ووېل چې "ښه!!! یعني تاسې یاست" وئیل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library


"هو!" دستي ئې ووئیل چې "پي تي ایم" او تاسې څهٔ غواړئ؟" ما ځواب ورکړ چې "ولې تا ته پته نشته؟" وئیل ئې "راته پته ده" خو د اوږد بحث نه پس ئې ووئیل چې "تهٔ د افغانستان د دوبۍ قونصلېټ ته د چیش لپاره لاړ وې؟" ما ورته ووئیل چې "د افغانستان سفیر د ډوډۍ پروګرام را ته کړی ؤ بس" وئیل ئې نهٔ! نهٔ! رښتیا خبره وکړه" ما وئیل "هم دا رښتیا دي". خو اخر غصه شو وئیل ئې "تهٔ داسې نهٔ منې".

دوه د وردۍ کسان راغلل، یوې کوچنۍ کمرې ته ئې بوتلم چې زهٔ فقط پکښې ځای شوم. د دې کمرې د پاسه چت ښېخې تیټ ؤ زما د سر سره، خو د دغه کمرې چت مکمل ائیرکنډیشنډ / ای سي ؤ. تقریباً شل دقیقې بعد زما وجود مکمل لکه د واورې سنچه شو، ښېخې کلک شوم، لاسونه به مې نهٔ شول خوځولي، ټول وجود مې اندام اندام یخ شو، مرګ ته نزدې شوم، پهٔ دې دوران پهٔ ما بې خودي راغلې وه. چې پهٔ خود راغلم، بله هم هغه شان وړه کمره وه هغې ته ئې ور دننه کړم خو د هغې د پاسه چت مکمل ګرم هیټر ؤ، یعنې پهٔ چت کښې ئې ټولې سرې د اور انګار کولمې پېچلې وې. پهٔ دې کښې هم چې شل دقیقې تېرې دې زما د وجود څخه خولې داسې رواني وې لکه سرې چې پهٔ غسل خانه کښې د لمبېدو پهٔ وخت پهٔ ځان اوبهٔ تویوي. چې بې خودۍ ته نزدې شوم بهر ئې را وویستم. یو تور دېوال ته ئې ور ودرولم دوه کسانو د بجلۍ / برق دغه تور د پلاستېک / ربړ پهٔ څرمن بند تارونه پائیپونه ئې پهٔ لاس کښې وو. پهٔ ما ئې پهٔ وهلو پېشه وکړه. زما وجود خو یخ والي او ګرم والي ښېخې نرم کړی ؤ، د تار پهٔ هر ګزار

(c) ketabton.com: The Digital Library



به زما په وجود پرخه پرخه وینه وتله. را پورې ستړي شول او د هر گزار سره به ئې د ناموس ښکنځلې کولې او دا به ئې وئیل چې "وو ایه! د افغانستان دوبۍ قونصلېټ ته ولې او د څه لپاره لاړ وې؟". خو زما ځواب هم هغه ؤ چې ما ته سفیر د ډوډۍ پروگرام کړی ؤ. خو خبر په دغه وهلو او ښکنځلو کښې زما د محکمې وار را نزدې شو یوه دوې ورځې پس ئې چې محکمې ته وړاندې کولم نو دغه دنگ سړی راغی وې وئیل چې "دلته چې څه هم وشول پرې خاموش شه، که په محکمه کښې او یا بهر دې فقط خُله ویته کړه نو ستا هغه ملگري چې تا ئې را دعوت کړې یې د هغو کاروبار به ختم وي او هغوي به په اماراتو ممنوع وي او ته به هم ژوندی ورسره ورک یې". زه چې محکمې ته پېش شوم هېڅ مې و نه وئیل. د ځان په غم نه بلکې د ملگرو له خاطره خاموش پاتې شوم. محکمې د زندان څخه د وتلو امر راکړ خو بهر ئې را باندې کلک بند بزونه ولگول چې موبائل باندې به خبرې نه کوې، غونډو ته به نه ځې، چا سره به مېلمه کېږې نه او داسې نور. زه له زندان نه راووتم خو محکمه مې دغسې چالان پاتې شوه. بهر چې راغلم څو ورځې به زه د وهلو له امله سم کښېناستې نه شوم، ملگرو ته به مې د یو بل شي د خوږېدو بهانې کولې. لنډه دا چې پوره دوې میاشتې مې د محکمې کېس وچلېدو دوې میاشتې پس محکمې د برې کېدو امر راکړ خو اخر کښې ئې ووئیل چې "دغه ستا اول او اخر وار ؤ چې اماراتو ته راغلې بیا د عمر لپاره نه شې راتلې". ورځ دوې پس چې د اماراتو د هوائي ډگر څخه بحرېن ته تلم نو په ما پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوارلس زره پینځهٔ سوه درهم (14,500) مخالفه یعني جرمانه راغلې وه. هغه مې ادا کړه او واپس بحرین ته روان شوم. بحرین ته په رسېدو ئې پوره لس ساعته په هوائي ډګر کښې ایسار کړی وم او رنګ رنګ تپوسونه ئې رانه کول. خو اخر ئې هم بحرین ته د داخلېدو اجازه راکړه.

د دغه سفر په دوران کښې نورې هم بلها خوږې او ترخې خاطرې لرم خو ستاسو د وخت په خاطر مې فقط لنډې او اړینې خبرې ولیکلې. دغه وه زما د مبارزې د اول زنداني کېدو قصګی. له دې بعد به د دوېم ځل زنداني کېدو قیصه در سره شریکوم، هغه هم د عربو د یو بل کوچني هېواد "د بحرین د زندان قصه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوېم څپرکی

## په بحرېن کښې زما زنداني کېدل

د اماراتو دوبۍ ابوظهبي له زندان او محکمې څخه پس به یو شل ورځې هم بحرېن ته زما د راتګ نه وې پوره. چې د ماښام لمونځ مې وکړ. غوښتل مې چې خپل غټ ګاډي ته تېل واچوم. له خپلې کمرې ووتم د ګاډي په طرف چې ګاډي ته ورسېدم د دېرې اندېولانو زنګوته را شروع کړل. وئیل ئې چې "ګیله منه! دلته د 'سي ائي ډي' (یعني د بحرېن د خفیه ادارې) کسان راغلي دي ستا د خوب ځای، کټ، بېګونه او سامانونه ئې ټول لټ په لټ واړول. اوس تا غواړي. خو مځ راځه نیسي دې". ما فکر وکړ چې په اماراتو هم ممنوع یې. په سعودي عرب هم ممنوع یې. بحرېن د عربو بېخي کوچنی هېواد دی نو هېڅ نه شي پټېدلی. بهتره به دا وي چې ځان ورته حاضر کړم. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ورور او یو بل د بحرین ملګري مې خبر کړل چې شاید زهٔ ونیول شم نو تاسو دې خبر یئ.

خبر زهٔ د ګاډي نه د خپل استوګنځای (یعني د خپلې ډېرې) په خوا روان شوم. چې لس دقیقې وروسته ډېرې ته ورسېدم زمونږ په کمره ګېر چاپېر د خفیه ادارو کسان ولاړ وو. ما ته ئې د موبائل سکرین ونیوهٔ، زما ویډیو پرې چالان وه. عسکر ووئیل چې "دا تهٔ یې؟" ما وئیل "هو!" وئیل ئې "راځه دننه کمرې ته!" چې ننوتم وئیل ئې چې "هغه بېتر راواخله چې د منظور عکس پرې رسم دی" ما ورته ووئیل "نشته". خبر د ډېر بحث وروسته ئې ووئیل چې "زمونږ سره راځه! کهٔ څهٔ قیمتي سامان دې وي هغه هم لهٔ ځان سره راواخله". ما هېڅ چرت خراب نهٔ کړ ځکه چې پهٔ هغو خفیه ادارو کسانو کښې اکثر پنجابیان ول. ما ږمنځ راواخسته وېښتان مې ږمنځ کړل. بیا چټک روان شوم غږ مې پرې وکړ چې "یاله حرکات" (یعني هېڅ خبره نهٔ ده نهٔ هېڅ دارېږم ځئ حرکت وکړئ). هم هلته یو کس ووئیل چې "دغه وېښتان به در خریم". ما ورته وخندل روان شو. زما د ګاډي طرف ته لاړو د هغې سیټان ئې وڅیرل خو څهٔ پهٔ لاس نهٔ ورغلل. نیم ساعت مزل مو وکړ د بحرین د 'سي ائي ډي' مرکز ته داخل شو. چې ګورم یو تن مې د شا لهٔ خوا لاسونو ته هتکړۍ راواچولې، پهٔ یو کوچنې ځای کښې ئې پهٔ چوکۍ کښېنولم او سخت تېنګار ئې وکړ چې "هېڅ یو لفظ به لهٔ خُلې نهٔ را وباسې". لږه شېبه وروسته ئې یو غټ ګردی خوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستو چې ومې کتو ما پېژندو. زمونږ وزیرستانی ؤ د مسیدو قبیلې سره ئې تعلق ؤ، مونږ به نیازي بللو. د هغهٔ هلته کاروبار ؤ غټې ګاډۍ ئې ؤ، لوډر او نور شیان ئې درلودل. لهٔ هغهٔ مې پهٔ اشاره کښې وپوښتل چې "ولې؟" هغهٔ وئیل چې "زهٔ ئې ستا پهٔ ګناه را ونیوم. ما فقط ستا تصویر پر خپل فېسبوک نشر کړی ؤ. را وې نیولم بیا ئې ستا تپوس را څخه وکړ، ما تهٔ ورته یاد کړې دوي درغلل تهٔ ئې هم راوړې. نهٔ پوهېږم چې څهٔ خبره ده؟"

بس زهٔ او هغه مسید وړې ترې ناست وو تقریباً دوې شپې دوې ورځې ئې پهٔ هغه کوچني چوکیو کښې لاس تړلي کښېنولي وو او د خبرو او حرکت کلک بندیز ؤ. لهٔ خوبه، تندې لوږې او ناستې ستړیا بېخي پهٔ عذاب وو. زهٔ خو خېر لږ کمزوری یعني ډنګر وم خو مسید ځوان بېخي غټ چاغ ؤ. شا ته هتکړیو کښې هم ډېر پهٔ زحمت بند ؤ. هغهٔ ډېر پهٔ عذاب ؤ. زهٔ لهٔ ځانه زیات هغهٔ ته زورېدلم. دوې شپې ورځې پس ئې هغه مسید اول یو دفتر ته ور دننه کړ. پوښتنې ئې ترې شروع کړې. څهٔ وخت وروسته هغهٔ را ووتو زهٔ ئې حاضر کړم. قاضي چې زهٔ ولیدم دستي ئې پهٔ عربي ژبه ووئیل چې "تعال یا شاعر!" (یعني راشه شاعره!) "یا له ګول قسیده" (چې یعني یو پهٔ عربي شعر ووایه). ما پهٔ عربي ژبه مات ګوډ غزل ورته ووئیل، هغهٔ لهٔ خندا شین شو. وئیل ئې چې "تکړه سړی یې!" دستي ئې ووئیل چې "شاعر خو مینه خوروي، تهٔ ولې فتنې ته لمن وهې؟ تهٔ پاکستانی یې او پهٔ شعرونه او شعارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې خان ته افغان وایې: زما عربي ژبه ډېره ښه زده ده ما خواب ورکړ، په تاریخي لحاظ مې هغهٔ قانع کړ. خپل اصل نسل او جغرافیه مې ورته په ګوته کړه. پاکستان او پاکستانیت مې ورته برخېړه کړ. دستي ئې ووئیل چې "زین یا شاعر" (چې یعني ډېر ښه او ډېر ښکلي معلومات دې راکړل). هغه وئیل چې "ته خبر یې دلته د سیاست اجازه نشته" ما وئیل "زه ډېر خبر یم خو ما خو عملي سیاست نهٔ دی کړی. پر ټولنیزو رسنیو مې خپل د مظلومیت غږ پورته کړی". خو له ډېر بحث وروسته هغه ووئیل چې "پر تا دې امانت وي مونږ ته ستا له خوا هېڅ ستونځه نشته او نهٔ زمونږ له خوا تا ته کومه ستونځه شته. خو له پاکستانه د غټو خلکو په وینا زمونږ څخه پاکستانی سفارت ستا د نیولو او پاکستان ته د ډیپورټ کولو یعني لېږلو سخت امر شوی دی. په یوه اوونۍ کښې درې ځله د پاکستاني سفارتخانې له خوا مونږ اګاه کړل شوي یو. نو مونږ مجبور یو چې د پاکستانی سفارتخانې امر د قانوني تړون له مخې پر ځای کړو". ما وئیل سمه ده. دا ګیله مې ورته وکړه چې زمونږ د افغان ملت په وژلو . زورولو کښې ټولې نړۍ ونډه اخستې ده، څه بحرین دې هم خپل حق پکښې ادا کړي.

قاضي په هر څهٔ پوهه ؤ د مایوسۍ ډکې سترګې ئې را پورته کړې د بختښنې سره سره ئې د بهر وتلو راته ووئیل. بهر ئې چې را ووېستم. زهٔ او مسید ځوان ئې دواړه ودرولو په سترګو ئې توري پټۍ را بند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او تورې خولۍ ئې سرونو ته را واچولې خولۍ ښخې ګرمې او اوږدې وې، روان بې کړو. یو ځای ته ئې دننه کړو جلا جلا ئې بند کړو. ما پهٔ هتکړو کښې بند لاس خوږول ښخې تنګ شوم، وږې وم، کمره ښخې تنګه وه یو خوا بل خوا مې لاسونه لګېدل. چې د انسان د پښو ټکاري مې وا اورېد، د ډوډۍ غوښتنه مې کوله. ساعت پس ئې دروازه را خلاصه کړه. یو بلوچ ؤ پهٔ اردو ژبه ئې وئيل چې زهٔ ډېر درباندې خوا بدی یم خو مجبور یم. عسکر یم د بحرین پهٔ سي ائي ډي کښې. خو هن دا وریژې در واخله لاسونه ئې د مخ لهٔ خوا را وتړل د سترګو د خلاصولو ئې بخښنه وغوښته. ما پهٔ تړلو سترګو خوارک شروع کړ، د لږ خوراک وروسته ولاړ شوم. لاسونه مې د مخ خوا ته وو زر مې د هتکړیو هغه تیرهٔ خیشرکي دېوال ته کش کړل، پهٔ دېوال مې پهٔ پټو سترګو "پي ټي ایم" (PTM) یعني د خپل تحریک نوم ولیکلو. شېبه وروسته چې کسان راغلل ډېر غصه شول چې "دا د سرکاري ادارې د خفیه تحقیقاتو پهٔ کوټه کښې پهٔ دېوال لیکل چا وکړل؟" زهٔ ئې ډېر پورې را پورې ووهلم خو ما ورته ووئيل چې "زهٔ نهٔ یم خبر زما لاسونه خو تړلي دي".

خبر نو سخته ګرمي وه یوه دوې شپې به ئې دلته را باندې کړې وې، بیا ئې یو اوږد سفر را باندې وکړ. پهٔ بحرین کښې د سیاسي خلکو زندان ؤ هغې ته ئې یوړو. پهٔ هغې کښې سترې کوټې وې، سترګې ئې را خلاصې کړې پهٔ جلا جلا کمرو کښې ئې بند کړو. دننه پکښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مړو د بکسې غوندې ځایونه وو هغه کنبې واچېدلو. یو وخت به ئې د دروازې په سوراخ کنبې دننه وچه کلکه ډوډۍ بل رقم سالن راوغورځول. اوبهٔ به مې د حمام / لېټرین واله څښلې. ډېر تنګ شوم تېز غږ مې وکړ "نیازي!!"، غږ مې واورېد چې "هو!!" ما وئیل "بېخي تنګ یم". دهٔ وئیل "حال مهٔ غواړه". لږه موده پس شور شو. ښکنځاوې ئې وکړې، پهٔ بندو کمرو کنبې دننه ئې لهٔ یو بل بېخي لرې بند کړو. وروسته به مې غږونه کول ځواب به نهٔ راتلو. لس شپې هم دلته بند وو. خېر سختي، ګرمي، لوږه، تنده به تېره وي، لسمه شپه ئې و ما ته زما سره نیول شوی مسید هم را وستو. اوهووو!!! بل رقم سره خوشحال شو یو بل ته، خبر مجلسونه مو شروع کړل د هغهٔ ګناه فقط زما هغه یو شېئر شوی تصویر ؤ. زهٔ پهٔ دهٔ ډېر خفه وم. ځکه ما خو مبارزه کوله مسید خو کاروباري سړی ؤ. زهٔ خو لهٔ اوله ذهني تیار وم هرې سختې ته، خو پهٔ مسید ځوان دې افرین وي هېڅ تېټه او بې ننګه خبره ئې نهٔ کوله ما ته ئې ډاډ راکولو. وئیل ئې چې تر تاسو نه یو زیات سر او مال مې لهٔ تاسې او لهٔ خپل قام وطن څخه جار دی.

نولسمه (19) شپه د شپې ناوخته کسان راغلل، غږ ئې وکړ چې "را پورته شئ ځو". هتکړۍ ئې را واچولې هغه پټۍ او خولۍ ئې را بند کړې روان ئې کړو. زهٔ لږ خوشحال شوم فکر مې کولو چې شاید خوشي کوي مو، خو ساعت مزل وروسته ئې یو ستر د عسري پهٔ نوم زندان ته ورسولو. هلته ئې زمونږ لهٔ پرتوګونو پرتوغابنونه وویستل مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسې د پرتوګ یوه بله پښنځه څه سره وپېچله ځانونه مو په ادب کړل خو ډېر په خوارۍ مو قدم اخستو. د ننه مې ډېر ورته ووئیل چې یو ځای مو بند کړئ خو بیا ئې هم جلا جلا بلاکونو ته بوتلو. زه چې داخل شوم نو ډېر عربیان، هندوان، پنجابیان، بنګالیان خو د ډېرې هېوادونو قېدیان وو ما ته ئې سترې مه شي وکړل چې نوی کس راغی. کښېناستم خو ډېر په خوارۍ. لږه شېبه وروسته راته پتلون راغی هغه مې بدل کړ، پوره ارام شوم. بس خو یو بل به له ما تپوسونه کول، ما ډېر په ویاړ خپل داستان او ګناه ورته بیانوله. دوي وئیل چې ځکه داسې چمتو یې چې کوم جرم دې نه دی کړی. له دوي به مې چې وپوښتل هر یو ئې په بدو بدو جرمونو بندي کړی ؤ. ما د دغه قیصې ذکر په خپل یو نظم "زه او زولنې" کښې هم کړی دی. خېر دغه زندان تر نورو ښه ؤ. خوراک ئې هم یو څه سم ؤ، لمونځ اودس مو هم کولي شول. درې ورځې پس د یو زنګ اجازه هم وه، په هفته کښې به دې له دکان څخه د خپلې خوښې سامان هم د دوي په ائین برابر راغوښتی شو. هفته مې لږه د ګونګ تېره کړه، هېڅ مې له چا سره مجلس نه کېده. یو تن راغی زه ئې د باندې وبللم، یو پښتون افریدی هم راغی. د زېرې خربلو مشین ئې لاس کښې ؤ. وئیل ئې چې وښتان درغائیچي کوو. د سر وښتان درخربوو. ما ډېرې بهانې ورته وکړې چې "دا وښتان ما کرلي دي مصرف مې پرې کړی دی، خېر دی زه به پینځه سوه (500) دینار درکړم خو وښتان مه را ختموئ". ده ووئیل چې "هغه ورځ دې یاده ده چې مونږ را ویستلی تا وښتان رمنځول؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وئیل "بالکل". نو را غبرګه ئې کړه چې "تهٔ خو د قام لپاره سر هم قربانوې نو وښتان ولې نې شې قربانولې؟" ما وئیل "کهٔ دا خبره ده نو بسم الله کوه!". بس د ډېرې مشین ئې یو ځل یو خوا را باندې تېر کړ بل ځل بلې خوا. بیا ئې پورې وهلم چې نور ئې خپل برابر کړه مونږ. مازې وښتان در خرابول، های های بې وسی. بیا ئې بند ته واچولم.

سبا شو، زما نوم ئې پهٔ زوړ واخست لهٔ بهر څخه، چې ور ووتم درې کسان پهٔ ټوپکو کمربندونو کښې ولاړ وو. ما ته وائې چې "تهٔ ئې خوښه کړه، لس کاله دلته زندان غواړې یا پاکستان ته تګ؟" ما ورته ووئیل چې "زهٔ حق لرم چې بل ملک ته لاړ شم پاکستان ته نهٔ ځم ما ته خطر دی حتي چې هلته مې وژني". دوي وئیل چې "بل هېڅ چانس نشته پهٔ دغه دوو کښې یو انتخاب کړه!" ما ورته ووئیل چې "زما هغه بل ملګری راولئ!". هغهٔ ئې راوستو دا قیصه مې ورته تېره کړه. هغه ووئیل چې "پاکستان ته مو دې ولېږي". د هغهٔ زړهٔ هم تم ؤ ځکه هغه داسې څهٔ نهٔ وو کړي چې پاکستان کښې ورته پهٔ توان تمام شوي وې. ما دستي ور خوښه کړه ما وئیل سمه ده، کسانو ته مې د پاکستان تګ ور انتخاب کړ. بس هتکړې ئې را واچولې، یو پېچلي ځای ته ئې بوتلو پهٔ چوکیو کښې ئې بند کښېنولو. وئیل ئې چې سحر به پرواز وي. سحر شو، د بحرېن هوائي ډګر ته ئې روان کړو لهٔ جېبونو ئې هر څهٔ را نه واخستل پهٔ هوائي ډګر ئې پهٔ دیکو دیکو ور ګډ کړو جاز ته ئې پورته کړو. چې کښېناستو زما موبائل ئې ما ته راکړ دوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکته شول، چې جاز پورته کېدو د جاز په سستم کښې خرابي راغله مونږ ئې بل جاز ته بدلوولو. ما په بدلي کښې دومره توره وکړه چې وائي فائي (WiFi) مې د ائیرپورټ کنېکټ کړه ګروپ کښې مې مېسج وکړ چې مونږ لۀ بحرېن څخه د پنجاب ملتان هوائي ډګر ته وړي، ملګري دې خبر وي.

نور طیارې پرواز شروع کړ بس نو په لاره دا سوچونه وو چې هلته به دا وي، هغه به وي. یو وار فکر راغی چې د طیارې کړکۍ په سوک ماته کړه چې طیاره غرقه شي او مړ شې چې هلته د پاکستاني ادارو د ظلم جبر څخه بچ شې. بیا مې چې شا و خوا وکتل مسافر په خوشحالۍ وطن ته ستنېدل، ښځې او ماشومان وو. ما فکر وکړ چې کۀ دا کار وکړې نو ستا د ژغورنې د مبارزې څۀ فائده؟

خبر رنګ رنګ سوچونه مې کول طیاره روانه وه خو زړۀ کښې مې وئیل چې کاش طیاره پرېوزي او زۀ د پاکستاني ادارو لاس ته ور نۀ شم. څکه ما ته هغه ټولې دهمکۍ دهړکۍ د مرګ او رنګ رنګ ګواښونه مخې ته ودرېدلې. ما ته سلګونه زنګونه او غرېز پېغامونه راغلي وو د مرګ او څپل کېدو دهمکۍ به وې او د پاکستاني ریاستي ادارو جبر خو ما په وزیرستان کښې په خپلو سترګو لیدلي وو. څۀ مې د یو ځای بل ځای قبائیلي سیمو ویډیوګانې لیدلې وې، څۀ مې د زندانو ویډیوګانې لیدلې وې چرته چې "پاکستاني ادارو" لۀ ښنتنو سره لۀ حد زیات جبرا ـ ظلمونه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دریم څپرکی

## د پاکستاني فوځي زندان قیامت خېز داستان

پېښور ته ورسېدم په هوټل کښې معطل شوم سحر مې یو ملګری سعودي عرب ته تلو د هغهٔ سره د رخصت لپاره د پېښور هوائي ډګر ته روان شوم، لاره کښې فوځي پاټک راغی چې ما پېژندپانه ورکړه ما ته ئې د راکوزېدو امر وکړ، چې ومې کتل زما پاکستانی شناختي کارډ بلاک ؤ. فوځي تپوس وکړ چې څهٔ دې کړي دي؟ ما وئیل د قام او د خاورې د خپلواکۍ قیصه. بس د لږ ځنډ وروسته درې فوځي موټران راغلل ځینې کسان پهٔ وردۍ او ځینې ئې پهٔ ساده جامو سمبال وو، پهٔ ما راچاپېر شول، زما لاسونه ئې تر شا راوتړل، سترګو ته ئې پټۍ را واچولې او سر ته ئې غټه د شنیل کپړې توپۍ را واغوسته او روان ئې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لږ سفر وروسته ئې له موټر کوز کړم، ډېر په بې رحمه ډول ئې په وهلو او ښکنځلو روان کړم. له هغې وروسته ئې پوښتنې شروع کړې، له مور او پلاره واخله چې څومره د وينې رشتې دي ټولې ئې وپوښتلې. زما ژوند او کار هر څه ئې معلوم کړل. له هغې وروسته ئې بيا په وهلو روان کړم، په ځمکه لاندې تيارهٔ منزل ته ئې بوتلم. دومره شور و غوغا وه د انسانانو فريادونه وو. د چيترو او د بجلۍ د تارونو اوازونه وو، زه ئې يوې بېلې پنجرې ته داخل کړم، تک سرهٔ د وينو رنګ کالي ئې راوړل، ورباندې ليکلي ئې وو چې قېدي نمبر 6. د دې پنجرې ټولې ستنې وينې وې، په ما ځمکه او اسمان يو وو. څکه چې رنګ رنګ اوازونه مې تر غوږو کېدل. د دې کوټې لاندې برخه داسې جوړه وه چې يوه ښخته به ولاړه وه بله به پرته وه، يعني انسان نهٔ پکښې ودرېدې شو نهٔ کښېناستې شو. هر دوه ساعته پس به کسان راتلل ما ته به ئې سترګې راتړلې. ډېر وزن دار چيتر ورسره ؤ ټول په مېخونو پېچلی ؤ، په دغه چيتر به ئې لس، پينځلس ګزاره وهلم او بار بار به ئې د ښکنځلو ډکه لهجه کښې وئيل چې "وايه شاباش! څهٔ دې کړي دي؟" ما به ورته وئيل چې "زهٔ يو سياسي کس يم ما فقط د شعر و شاعرۍ او تقرير په شکل د خپل وطن د مظلوميت، محکوميت. ابادۍ او خپلواکۍ خبره کړې ده نور مې هيڅ نهٔ دي کړي" خبر خوب ته به نهٔ پرېښودل کېدم. په سبا ئې يو بل افريدی کس هم رادننه کړ، په هغهٔ الزام ؤ چې په هدفي وژنو کښې ککړ دی. د دهٔ سره بېخي ناوره جلند کېدهٔ، دا تن به ئې زما تر مخ لس ساعته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله دوه ساعته، کله پينځهٔ ساعته مکمل پهٔ رنګ رنګ طريقو وهلو. د دهٔ پهٔ خُلهٔ به يوازې دا يو فرياد ؤ چې، پهٔ رب قسم بې ګناه يم هېڅ مې نهٔ دي کړي.

پهٔ دغه کوټه کښې مې اووهٔ ورځې پهٔ ولاړه هم دا رقم پهٔ سزا تېرې کړې. يو وخت ډوډۍ به راکړل کېده. هغه هم يوه وړه ډوډۍ او سالن د نهٔ خوراک پهٔ څېر. لهٔ اووهٔ (7) شپو پس ئې سحر بيا پهٔ ما غږ کړ، هغه خپل کالي ئې را واغوستل، سترګې او لاسونه ئې تر شا راوتړل، سر ته ئې بوجۍ را وغوستله، پهٔ ډيکو او ښکنځلو ئې پهٔ فوځي موټر کښې کښېنولم. مخ پهٔ شا او پهٔ څنګونو مې فوځيان کښېناستل. روان ئې کړم. دا د جولائي مياشت وه ګرمي لهٔ حد زياته وه، زما خو هر څهٔ بند وو. بدن مې مکمل پهٔ خوَلو کښې لوند ؤ. خپلې خوَلې به سترګو ته راتلې، د سترګو نظر مې بې ديده شو. بدن مې ځای پهٔ ځای سوځېدو څکه چې خولَه به پهٔ هغه ځای ډنډ کېده کومو ځايونو ته چې دوي وهلې وم. ساه مې بندېده، ډېر شکايت مې ورته کولو چې ساه مې بنده ده خېر دی لږ مې لهٔ مخه بوجۍ پورته کړئ! خو ځواب به د ټوپک پهٔ کونداغ ګزار او د مور پهٔ ښکنځلو ئې راکولو. يو ځل ئې د څښکلو اوبهٔ راکړې بيا لهٔ سحره تر مازيګره چې بنو ته مونږ پهٔ لار څومره سفر وکړ، اوبهٔ نهٔ راکول کېدې. دا چې څنګه سفر ؤ څنګه ګرمي وه، هغه پهٔ لفظونو کښې پرې تنده د بيانېدو نهٔ ماتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موټر کښې ناست مشر فوځي په سېټېلائيټ کښې ووئيل چې "سرا! ہم بنوں پہنچ گئے ہیں". نو ما ته فکر راغی چې بنو ته ورسېدو. هلته په بنو کښې به یو یا یو نیم ساعت معطل وو خو هغسې د موټر په سیټ کښې تړلی ئې کښېنولی وم. له هغې پس ئې بل موټر ته بدل کړم. سفر ئې شروع کړو. د موټر د روانېدو سره ئې ما ته سر سر او مخ مخ ته څپېړې او سوکان را شروع کړل، وئيل ئې چې، "آپ کو ڈی آئی خان کیوں لیے جارہے ہیں؟". یعني "تا ډي ائي خان ته ولې وړي؟" دوي زما فکر منتشر کولو مګر ما ته اندازه کېده چې موټر د بنو څخه د میرانشاه په سړک حرکت کړی دی. دوي زما فکر بدلولو په موټر کښې یو تن په پښتو را شروع شو، وئيل ئې چې "ته خو شاعر یې. هله یو غزل ووایه!" نو ما دستي خپل نظم "پښتون شاعر" ورته پېل کړو.

"پرون لېلا داسې په چل ول کښې ګیله کوله"

د دغه نظم چې دغه بندونو ته راورسېدم چې "تر څو چې وا نه خلم د خپلو شهیدانو بدل" نو کسان د اور غوندې ګرم شول، په ما ئې په وهلو شروع وکړه ښکنځلې ئې پېل کړې چې "بدل له چا اخلې؟ وایه!!!" ما ورته ووئيل چې "ما خو څوک یاد نه کړل مګر چې تاسې دومره پرې غصه شوئ نو خپل فکر وکړئ چې زه بدل له چا اخلم؟"

بیا به ئې د بل غزل غوښتنه وکړه، بل به مې چې شروع کړو هغه حال به و، ځکه چې زما ټوله شاعري د دوي په ضد وه. بحث مباحثه، وهل

(c) ketabton.com: The Digital Library


او غزل شروع ؤ چې ما ته اندازه ولګېده چې موټر د میرانشاه لهٔ لارې څخه را بېل شو د رزمک لاره ئې خپله کړه ځکه چې موټر چپ لاس ته راتاؤ شو دغه لاره زمونږ کلي ته تللې وه. زهٔ زړهٔ کښې ډېر قرار شوم چې شکر د خپل کلي خوا ته ئې روان کړی یې. خبره د حل خوا ته روانه ده. د لږ سفر وروسته ما ته سړک اندازه راکوله چې زمونږ د کلي اسدخېل ډمډېل فوځي کېمپ ته ورسېدو، سړک ځکه اندازه راکوله چې سحر او مازیګر به زهٔ پهٔ دغه سړک تلم راتلم.

نو پهٔ ډمډېل کېمپ کښې ئې لږ ایسار کړم خو هغوي ورته ووئیل فکر کوم چې دغه منطقه ټوله پېژني لهٔ دغه ځایه ئې یوسئ. بیرته ئې د موټر مخ راوګرځوهٔ، د رزمک خوا ته ئې سفر شروع کړ. زهٔ چې کله د خپل کور تر څنګ دوي پهٔ تړلو لاسونو او تړلو سترګو تېرولم نو د خپل کور پهٔ ستر مونږ کښې مې دغه ټپه لهٔ خانه سره ووئیله چې

جانانه وینښ یې کهٔ ویدهٔ یې
ستا تر کوځې مې لاس تړلی تېروینه

د خپل کلي پهٔ کوچني بازار چې موټر ګډ شو، نو ما د ځلوبې او پیکوړې بوي محسوس کړ، ځکه چې زمونږ پهٔ کلي کښې دغه دوه شیان ډېر خوندور پخېږي. لهٔ خپل کلي چې تېر شو نو د لږ سفر وروسته موټر بیرته چپ لاس ته تاؤ شو، دا زمونږ د تحصیل دوسلي فوځي کېمپ ؤ، دې ته ئې داخل کړم. د داخېلیدو سره ئې دروازه راخلاصه کړه. زهٔ ئې پهٔ موټو ونیوم لهٔ موټر ئې را کوز کړم، چې څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې را کوز کړم زهٔ پهٔ زمکه ولوېدم، پښو مې کار پرېښی ؤ. دوي د پاسه لغتې را کولې پهٔ بوټانو ئې وهلم، ښکنځلې ئې کولې چې خبرې د لوی افغانستان او پښتونستان کوې او دلته پهٔ پښو ولاړېدې نهٔ شې. بهر حال دغه پېغور سخت درد راکړ، دومره زور مې وکړ چې پهٔ مېږي مېږي پښو ودرېدم او دوي تر لاسو ونیولم روان ئې کړم. دلته هم لاندې پهٔ زمکه کښې کوټې جوړې وې هغې ته ئې ننویستم. هم هغه رقم سرهٔ کالي ئې راکړل خو فقط ئې پرتوګ راکړ، قمیص ئې هغه خپل راته پرېښود. بېخي کوچنۍ کوټه وه فقط زهٔ پکښې ځائېدم. مخامخ راته کېمرې لګېدلې وې خو دلته بیا پهٔ کوټه کښې فوم، سپینج یعني ښه بستره اواره وه. دستې دې ته ور پرېوتم، د ور پرېوتو سره مې سترګې لاړې. دوي چغې راباندې وهلې لهٔ بهر څخه خو ما ځان کوڼ کړ، اخر ئې قُلپ را خلاص کړ دننه راغلل نو نس نس او سر سر ته پهٔ وهلو راباندې شروع شول چې "پاڅه!!! تهٔ دلته خوبونو ته راغلی یې؟" بهر حال زهٔ را کښېناستم پهٔ یو څنګ بل څنګ مې وړې وړې سلګۍ او ارام ارام فریادونه اورېدل. دلته مې هم ټوله شپه ویښه تېره کړه خو دلته ئې زهٔ ونهٔ وهلم. نور اندازه نهٔ کېده چې څهٔ وخت دی خو د اذان پهٔ وخت مې "اسوالاة خیر و من" شعار چې واورېدل نو اندازه راته وشوه چې سحر شو. لږ وخت پس ئې ما ته بیرته خپل قمیص راوړ، بیا ئې لاسو ته تر شا هتکړۍ او سترګې بند پهٔ سر بوجۍ راوچوله. پهٔ موټر کښې ئې کښېنولم، موټر چې لهٔ فوځي کېمپ ووتو زما ورته پام ؤ، د موټر مخ د میرانشاه خوا ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د لږ سفر وروسته ئې بیا زهٔ سر مخ په وهلو او وئیل ئې چې "کیا آپ کا خوان انقلاب کے لئے حاضر ہے؟" یعنې "ستا وینه د انقلاب لپاره حاضره ده؟" ما وئیل "هو!" ځواب ئې راکړ چې نن به ستا وینه په انقلاب کښې شامله شي. د دوي مکمله هڅه دغه وه چې زهٔ پوهه نهٔ شم چې چرته یم او چرې روان یم؟ بل اخره د ډېرې سختئ وروسته ما ورته ووئیل چې که په دې وجه سزا راکوئ چې زهٔ خای ونهٔ پېژنم نو ارام شئ ما ته معلومه ده دا وخت زهٔ د نریاوالې په موړونو کښې په سړک روان یم، زهٔ خای پېژنم. نو اول ئې سختئ را وکړه خو وروسته ئې په وهلو تمبولو کښې نرمي راوسته. د یو ساعت سفر وروسته د میرانشاه فوځي زندان (ډائیز برانچ) ته ورسول شوم. زما چپ خوا ته ناست د ایف سي ځوان محسود ؤ، پټ پټ ئې وئیل چې زړهٔ مې ډېر درد کوي خو بې وسه یم. ما ترې پټ د نسوارو خواهش وکړ. د یو وار نسوار ئې راکړل، هغه د یو وار نسوار ما دوه ویشت (22) ورځې مسلسل اچول، راته مینځل به مې چې وچ به شو اچول به مې.

ډائیز برانچ میرانشاه ته چې وسپارل شوم نو د دوسلي د قېد هتکړې او شیان ئې رانه وویستل. د میرانشاه د قېد هتکړې، پټئ او توپئ راوچول شوې. سپاهي غږ وکړ چې E بلاک کښې نمبر 30 کوټې ته ئې واچوئ. زهٔ ئې په دیکو روان کړم، هم هغه پنجرې ته ئې واچولم. پاس مې په سر کېمره وه، د پنجرې په ورهٔ کښې په ترلي مخ فوځي راته ولاړ ؤ، د هغهٔ سره ټېلیفون هم لګېدلی ؤ. بار بار به ګېنتئ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلې. لهٔ باندې بل پهٔ تړلي مخ تن راغی، زهٔ خو حق پک وم، کوټه تو له لهٔ ګند، خاورو، ورستو سالنو او مېږو ډکه وه. پهٔ دېوالونو ئې ځای پهٔ ځای د انسانانو د وينو، د سر وېښتانو او مازغو نشانونه وو.

ما فوځي ته وئيل چې پښه چرته کېږدم؟ ګرمي دومره تېزه وه چې زړهٔ مې بندېدو. دا کمره بېخي کوچنی وه، مخامخ هم تو له را بند وه، اسمان نهٔ ښکارېدو. پهٔ دې وخت کښې هغه فوځي د شنهٔ اسماني رنګ کالي راکړل، وئيل ئې "خپل کالي وباسه، دا واغونده! خپلې څپلې راکړه د قبد دا چپل پهٔ پښو کړه!" ما هم هغسې وکړل د جېل کالي تول څيرې څيرې وو، سپين پهٔ خولو ککړ وو، بې انتها بد بو ترې تلهٔ. چې کالي مې واغوستل راغبرګه ئې کړه چې: "اُٹھ جاؤ باہر چکر لگاؤ!"، چې پاخه بهر وګرځه! ما ورته ووئيل چې لږ ارام به وکړم، اتمه شپه ده چې شپه ورځ وېښ يم تکی خوب مې نهٔ دی کړی. دهٔ ووئيل چې اډېر نشته چې دلته څوک ارام وکړي. پهٔ دغه پنجره کښې پهٔ هر رنګ خبرو، تلاوت، عبادت او تر دې چې پهٔ تېز اسوېلي هم سخت بندېز ؤ. لږ ساعت پس شور شروع شو، های ادې، وخ مورې، اخ خدايه، رښتيا بې ګناه يم، واي ادې، هېڅ مې نهٔ دي کړي ما پرېږدئ! دغه رنګ رنګ اوازونه او د هلو شرک شړوک مې غوږ ته راتلو، لږ وخت پس اواز وشو چې "کھڑے ہو جاؤ منہ دیوار کی طرف کروں" يعني "چې ولاړ شه او مخ دېوال طرف ته کړه". ما پسې څلور کسان راغلل، لاسونه ئې تر شا پهٔ امريکنو هتکړو را وتړل، سترګو ته پټی او پهٔ مخ او سر ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library


غټه بوجۍ را واچوله روان ئې کړم هسپتال ته ئې بوتلم تول چېک اپ مې وشو، وئیل ئې "کومه غټه بیماري خو دې نشته؟" ما وئیل "نهٔ! بس لهٔ هسپتاله ئې چې را روان کړم نو فریادونه، اهونه ورو ورو تېزېدل. زهٔ ئې هم هغې خوا ته روان کړی وم، چې ور ورسېدم نو پهٔ ګونډو ئې کښېنولم، یو خوا بل خوا شړک پړک بې اندازې وهل شروع وو، د چا فریاد به د ماشومانو غوندې ؤ، څوک ځوانان او څینې به د سپین ږیرو ژاړاګانې وې. تقریباً یو ساعت به ئې دغه خلک وهلي وي. چې زما شاته کس ودرېدو وئیل ئې چې "یہ مہمان ہے". یعنې "دا مېلمه دی". د شا لهٔ خوا ئې پهٔ ګغته ووهلم بوټ ئې پهٔ پښو ؤ زهٔ ئې پړمخ پهٔ زمکه واچولم، لغتې دوې درې را شروع شوې. سر ته، مخ ته، ملا ته، خېټې ته، سم پهٔ لغتو راپورې سترې شول. بیا ئې غږ وکړ چې "ڈھڈا لیٹے آؤ!". یعنې "لوړ راوړئ!" چې لوړ ئې راوړهٔ نو زما ملا ته ئې ونیوهٔ زما دې د الله پهٔ ذات قسم وي چې څومره زور پکښې ؤ پهٔ هغه قوت ئې زما ملا ته را خلاصول. عن تر دې چې راوړل شوي لوړونه ئې تول را پورې مات کړل. بیا ئې پهٔ غصه غږ وکړ چې، "یہ تو سوکھے ہیں، گیلے ڈنڈے لیے آؤ!" یعنې چې "دا لوړونه خو وچ دي، لواندهٔ لوړونه راوړئ!" چې لواندهٔ لوړونه ئې راوړل نو پهٔ ما ئې اواز وکړ چې "سجدے پر ہو جاؤ!". مطلب چې "پهٔ سجده شه!". نو زما چې څومره وجود بنکارېدو دوه کسان را پوزې سترې شول، راته دمه شول، د دمې نه پس ئې غږ وکړ چې "چپل اتارو!" معنې چې "چپل وباسه!". نو زما د پښو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کښې دوي راوړم، کومو کښې چې مریضان هسپتالو کښې ګرځوي. خو لاسونه او سترګې ئې راتړلي وو. پنجرې ته چې داخل شوم بیا هغه ولاړ فوځي امر وکړ چې "خوب به بېخي نۀ کوې ګنې بیا نو تۀ ښۀ پوهېږې." د یو دوه ساعته ناستې نه پس ئې بیا امر وکړ چې "کھڑے ہو جاؤ چکر لگاؤ" یعني "ولاړ شه چکر لګوه" ما ووئیل "پښې مې زخمي دي نۀ شم ودرېدې، د ګرځېدو نۀ یم." وئیل ئې "خبر به شي، تۀ ولاړ شه." زۀ د دېوال پۀ اسرې پورته شوم، واړۀ واړۀ قدمونه مې شروع کړل خو پښو مې دومره درد کوۀ لکه پۀ ماتو شیشو چې روان وم، بس شپه او ورځ به پۀ دې ډول تېرېده.

لسمه شپه، لسمه ورځ ده چې زۀ بې خوبه یم. حساب مې مکمل ګډ وډ کېدل، د عبادت غوښتنه به مې وکړه، فکر مې کوۀ چې لږ به ارام شم خو هېڅ اجازه نۀ راکول کېده. زما سره تر څنګ بل تن قېدي ؤ، لۀ غږه ځوان معلومېدۀ. دۀ پسې به هر ساعت پس ټیم راتلو، لۀ حد زیات وهل ئې ورکول خو دغه ځوان به ډېر مزاحمت کولو، اخر کښې به ئې دوه درې دا چغې ډېرې پۀ زور وهلې چې، ای زما خدایه! تۀ خو مې وینې، ای زۀ به پېغمبر ته دا شکایت کوم چې ستا امتیانو راسره داسې داسې وکړل. وخ! دا الله او رسول خاطر وکړئ! بې ګناه یم، ما ته مې وړه لُور پۀ انتظار ده چې هغه راته یتیمه نۀ کړئ. وخ! دغه نارو به مې ټول وجود لړزولو. بې خوبي به مې ختمه شوه، سم دستي به مې ما ته خپله د درې کالو ماشومه لُور "ملالۍ" سترګو ته ودرېده. زما

(c) ketabton.com: The Digital Library


ملالۍ لوڼکې مې اوس هم څنګ ته ناسته ده، زه لیکل کوم بار بار په نیمکۍ ژبه راته وائي چې "بابا! بس کړه!". نو په هر حال رنګ رنګ پړاوونه به راتلل، په دغه پنجره دننه به هېڅ نه را پرېښودل کېدل. اوبه به مې په سوال غوښتې خو په خپل وخت به نه راکول کېدې. یو وخت به فقط راکول کېدې، د شیشې نه به ئې سر لرې کړی ؤ شیشه به ئې د اوبو راکړه. سر ئې ځکه ترې لرې کولو چې هسې نه چې تېر ئې کړي. میتیازو ته به مې زارۍ ورته کولې چې اجازه راکړئ خو په هغې به هم سم زورول کېدم، په هره خبره به ځان ځان ته تکلیف ؤ. په هر صورت چې بل مازیګر راغی بیا اواز وشو چې "لاړ شئ! مخونه دیوال ته کړئ!" بیا په ما کسان لګیا شول، لاسونه، مخ او سترګې ئې را بند کړل په دیکو ئې روان کړم. وئیل ئې، "آجا کبھی تیرا انتظار تھا"، چې "راځه کنه ستا انتظار ؤ". بیا مې چې څومره پند کولو اهونه فریادونه به زیاتېدل. یوې کوټې ته ئې داخل کړم، هسې هم اوومه (7مه) میاشت وه ګرمي له حد زیاته وه خو دغه کوټه کښې مکمل د بجلۍ برق سستم ؤ. فکر کوم کوټه د تختو جوړه وه، تور سپین ګول ګول تارونه پکښې پیچلي وو. چې ما ته ئې مکملې سترګې را خلاصې کړې نو یوې خوا ته مې پلاسونه چې نوکان ئې پرې ویستل دغه پراته وو، بل خوا ته غټې جتکې چې غوا پرې حلالوي دا پرتې وې، داسې پائیپونه او لوړ چې په انسانانو کښې منډل شوي وو په وینو ککړ وو دا پراته وو. مخامخ په دېوال داسې کسان ځوړند وو چې له چا سر کټ، د چا لاس او د چا نیمائي خېټه. څنګ ته یوه توره غټه د اوسپنې

(c) ketabton.com: The Digital Library


چوکۍ وه. د دېوال د بجلۍ تارونه ورغلي وو، په دا منځ کښې غټ زنځیر د کوټې له چت څخه را ځوړند ؤ، زه ئې ور وستم، لاسونو ته ئې شا ته هتکړۍ را واچولې، اولته ئې زما لاسونه را بند کړل بیا ئې دغه زنځیر زما لاسونو ته واچولو، ورو ورو ئې زما لاسونه پورته کول عن چې زما د پښو د غټو ګوتو سرونه او د پوزې سر په زمکه پاتې شول. نور مې د وجود ټول زور په غلط اړخ په لاسونو ورغی. ما له مُلایانو اورېدلي چې قبر کښې به دې یوه پوښتې په بله ننوځي خو دلته زما پوښتۍ مخامخ نه بلکې د شا له خوا په یوې بلې ننوتې. شاته مې کس ولاړ ؤ، له ما دومره خوله روانه وه فکر مې کوه چې څوک اوبه راباندې اچوي. شاته کس به په چیتر کوناټیو او پښو ته وهلم، وئیل ئې چې "ویډیو به جوړوو یو شعر ووایه!". ما ته ښځې نوی غزل ذهن ته راغی ما په نظم کښې وئیلي وو چې:

زه عام وجود یم خاورې کېږم به فاني به شمه
خو که په ننګ د وطن مړ شوم قیمتي به شمه

چې دغه غزل مې ښه په زور پېل کړ ما وئیل دا درد به کم شي د فریاد او ژړا په ځای مې دغه غزل ښه تېز شروع کړ نو دستي ئې ووئیل چې ښه!!! دا خو بدمعاش یې." نور ئې هم زنځیر کش کړ او وهل ئې تېز کړل، خو چې ډېر زور مې کړې وي شل دقیقې به په هوش وم، نور زنځیر بې هوشه کړم. چې بیا په هوش راغلم فقط مې سترګو او دماغو کار کولو نور مې وجود ټول پردی راالګېدو، خو په زنځیر

کښېږې هغسې څوړند وم. مخامخ راته کس ودرېدو، په لاس کښې ئې د انسان لاس ؤ، چې تازه د انسان څخه کټ شوی ؤ، د وينو سرې دارې ترې روانې وې، ما ته په اردو کښې وائي "بہن چھوت! یہ وہی تیرا ابا تھا جو میرانشاہ کینٹ کی طرف اشارے کر رہا تھا کہ، یہ جو دہشگردی ہے اس کے پیچھے وردی ہے" وئيل ئې چې "خور کوسه! دا هغه ستا لاس دی چې زمونږ د ميرانشاه کېنټ خوا ته دې راغځولو او نارې دې وهلې چې، "یہ جو دہشگردی ہے اس کے پیچھے وردی ہے". ما وئيل چې دا خو ئې لاسونه رانه کټ کړي دي، څکه د وجود په سر او پښو نه پوهېږم. خو بيا لږ وخت پس بيرته بې هوشه شوم. بيا به چې په هوش راغلم بيا به هغسې زنځير کښې تړلی وم. تقريباً شپږ ځله به بې هوشه وم بيا ئې له زنځير څخه را کوز کړم. وئيل ئې په اردو چې په چوکۍ ئې کښېنوئ اوبه ورکړئ! تږی به وي. وخ! د اوبو غږ او زما مرۍ الک پرې پرې او له حد زياته ګرمي او سختي. خبر په کرسۍ ئې کښېنولم، غټ چای جوش ئې راوړو، له قهوه / شنو چايو ډک ؤ، په چوکۍ ئې مکمل داسې وتړلم لکه مور چې ماشوم په سيزنۍ تړي. نو دا شنه يخه چای ئې خُلې ته راته ونيوه. زه سخت تږی وم، نيم چای جوش به مې ښکلی وي. ما وئيل اوبه نشته؟ دوي وئيل دا ستاسو د افغانانو ډېر خوښ دي دغه چای، دا وښنه!. په خبرو اترو کښې چوکۍ هم ورو ورو ګرمېدل شروع کړل او ما ته ورې متيازې له کنټروله بهر راغلې، ورته مې ووئيل چې ډېرې سختې ورې متيازې راغلي دي اجازه راکړئ! دوي دستي يو کوچنی کلېپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړو، زما د وړو متیازو د ځای سر ته ئې دغه کلېپ ور واچولو. ما فکر کوهٔ چې زما دغه ځای ئې را غوڅ کړ، دومره سخت ئې را بند کړ، بس پهٔ دغه چوکۍ ناست وم یو خوا د متیازو عذاب، بل خوا مې وجود ټوک ټوک او بل خوا دا چوکۍ هم دومره ګرمه شوه چې جامو مې د سوځېدو بوي شروع کړ. لهٔ پورې خوا راغلي د برق تارونه به ئې لهٔ یو بل سره ولګول، داسې پړک او ډز به ئې کولو لکه پهٔ راکټ لانچر چې ډز وکړې. دغه چوکۍ ته به ئې شاټونه ورکول، پهٔ کومه چوکۍ چې زهٔ ناست وم لاس مې شاته پهٔ چوکۍ بند ؤ. پلاس ئې راوړ، زما نوک به ئې دباؤ کړ عن چې نوک به مې پهٔ منځ مات شو، نیم به ئې یو خوا او نیم به ئې بلې خوا ته کش کړ. درې نوکان د یو لاس او څلور ئې لهٔ بل لاس څخه راخخه وویستل. درې شپې ورځې به زهٔ پهٔ هم دغه کوټه کښې ساتل شوی وم او متیازې ئې دغسې را بندولې. لهٔ دې سزا پس ئې ووئیل چې "جج ته دې پېشي ده."

جج ته چې ئې ور وستم بې خوبه، وجود زخمي، پهٔ خولګو کښې لوند خو د جج کوټه یخه وه، ای سي (AC) پکښې لګېدلی ؤ نو چې زما وجود نابېره یخ شو نو لهٔ خلې مې بې اختیاره چغې ووتې، بل رقم دردونه مې وجود شروع کړل. جج پښتون ؤ، وئیل ئې "دلته ولې راوړل شوی یې، ترهګر یې؟ دا خو د ترهګرو جېل دی." ما وئیل "نهٔ زهٔ خو سیاسي ورکر یم د "پشتون ژغورنې غورځنګ" لپاره شعر و شاعري کوم. پهٔ شاعرۍ کښې خلک اتفاق، یووالي او د خپل حق غوښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره رابولم: "مخامخ خره غټه پرده لګېدلې وه، ریموټ ئې ورته ونیوهٔ سکرین ؤ، دستي زما غزل راغی چې:

"ګنې نو دا د پنجابي پاکستان مرده باد!"

وئیل ئې "دا اتفاق ده؟" ما وئیل "دلیل". دستي به ئې په ډنډه ګزار راکړ چې "چپ د دلیل زویه." جج ماسک تړلی ؤ مخ ئې پټ ؤ، بل پوستې ئې سکرین کښې ولګوهٔ. په پېښور کښې د اورکزیو ځوانانو د پوهنتون او لیسې د زده کوونکو پروګرام دی، د پاکستان ترانه شروع ده ټول خلک ئې په احترام ولاړ دي، زهٔ ناست یم، جج وئیل "دا څوک ناست دی؟" ما وئیل "زهٔ یم!" دستي ئې بله ویډیو راواړوله، د افغانستان د کرکټ لوبه ده، ملي سرود شروع دی په ټي وي، زهٔ د ملي سرود په احترام د ټي وي مخ ته ولاړ یم بېرغ مې په وږو پروت دی ملي. وئیل ئې "دا څوک دی؟" ما وئیل "دا زهٔ یم!" جج وئیل چې "ښه!!! اوس وایه غداري توره وي کهٔ سپینه؟" جج وئیل زهٔ به ومنم چې فوځ، ائي ایس ائي، ایم ای او ټولې اداري غلطې دي، ستا سره د پاکستان ترانې کوم بد کړي دي چې نهٔ ورته ودرېږې او د افغانستان ترانې ته ودرېږې. باوجود د دې چې ته پاکستاني اسناد پاسپورټ او شناختي کارډ لرې او اوسېږې هم پاکستان کښې. ما وئیل "کهٔ دلیل اورې نو ځواب وایم، کهٔ وهې مې نو شروع شه هسې بهانې مهٔ راته غ ړه" وئیل ئې "اورم وایه!"، ما وئیل "زهٔ خو پاکستان کښې نهٔ اوسم ستان په ما کښې اوسي، زما خو زرګونه کاله وشول چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خاوره مې ده. نیکهٔ او جائېداد مې معلوم دي، میراث مې معلوم دی، هر څهٔ مې معلوم دي. د پاکستان څلور اویا کاله کېږي چې دلته اوسي. پهٔ څهٔ نهٔ څهٔ شکل پښوانیو مشرانو د غلې او دهوکې پهٔ رنګ درسره منلې ؤ، خو د تهتر ائین کوم چې ستا جناح او نورو جوړ دی د هغې مطابق تا پښتنو ته څهٔ ورکړي دي بغېر لهٔ جنګ، بې عزتیو، لادرکیو، د ترهګرۍ پهٔ نوم لهٔ بدنامۍ بغېر؟ بهر حال ډېر پهٔ تفصیل لاړم ورته خو اخر مې هم ورته ووئیل چې زهٔ څنګه او پهٔ کوم مخ ترانې ته پهٔ احترام ودرېږم؟ زهٔ احتجاجاً ناست یم." وئیل ئې "پهٔ شعرونو کښې پهٔ قائداعظم جناح پورې مسخرې ولې کوې؟" ما وئیل "اپې فقیر حاجي میرزالي خان ته ډاکو ولې وایئ؟" خو ټوله توجه ئې پهٔ دې خبره وه چې څان افغان ولې بولې؟ افغانیت ته کار ولې کوې؟ او مونږ ته ترهګر ولې وائې؟ پهٔ بحث کښې ټوله خبره ما ګټله خو د دهٔ به هر سوال د وهلو پهٔ بهانه ؤ. ښهٔ ئې زړهٔ رابانډې سوړ کړ نو اخر کښې ئې ووئیل چې "یا درې دېرش (33) کاله بند او یا به دې عدام / پهانسي کړو تهٔ د ملک غدار ډکلئیر شوې یې." ما وئیل "چې څنګه ستاسو خوښه وي."

پاکستانی شناختي کارډ ئې رانه واخستو، پاسپورټ خو مې مخکښې نه بلاک ؤ. بیا ئې هغه خپلې وړې پنجرې ته پهٔ تړلو سترګو، تړلو لاسونو روان کړم. چې ورسېدم کوټې ته ئې ورخلاص کړم نو بار بار به دوه درې کسان راتلل پښتانهٔ به وو، وئیل به ئې چې فقط

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویډیوئي پیغام جوړ کړه. مونږ په قران وعده درسره کوو چې نشر کوو ئې نه خو فقط ئې مونږ غټ جج ته ښایو چې دغه کس د ملک او د فوځ مخالف نه دی. نور هېڅ ستونزه نشته، تا ته دا ټول وهل او سزاګانې په دې خاطر درکول کېږي چې ته ویډیو نه جوړوې. زما به یو ځواب ؤ، مرګ قبلوم خو دا ویډیو نه جوړوم ځکه چې زه چې مړ وځم له دغه ځایه پېغور نشته، خو که سر ټیټ کړم تاسو مې که په هوائي جهاز کښې کور ته یوسئ معنې نه لري. چې کله ما وچ کلک انکار وکړ نو سزا نوره هم سخته شوه، هغه د اوږدې ږیرې کس راغی چې "نهه ویشتم (29) نمبر کس پهانسي کېږي بیا ستا وار دی چمتو شه ذکر فکر کوه." رب ګواه دی زه دې خبرې ته له زړه خوشحال شوم، ما وئیل "شکر خدایه! چې راکړې وجود او وینه مې د خپل مظلوم ملت او محکوم وطن په دفاع کښې قرباني کېږي." یو خوا بل خوا به د سزا او جزا غږونه اوربدل کېدل، په دغه شپه ئې تقریباً څلور کسان له پنجرو وویستل او هم هلته ئې چرماري کړل، په ټوپکو وې وژل. چې شپه شوه زه ئې هم بیرته بند رابند کړم. بهر ئې وویستم. چې د سحر اذانونه شروع شول د پهانسۍ د زنځیر او پټو شرنګاري او اوازونه شروع شول، زه ئې ټیټ سر کښېنولی وم بار بار ئې په شا ټپولم چې "کلیمې وایه!". دلته ما ته خپل ماشومان او د ناروغه زړه مور زړه ته راغله خو له ځان سره مې ووئیل چې "ربه! په تا ئې سپارم ځکه چې زما په وطن کښې د لکهونو په شمېر داسې مېندې خویندې اوسي چې د چا ورونه، د چا زامن، د چا خاوندان ژوندي ورک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا په رنګ رنګ نومونو او مرګونو مړه شوي دي. زه د هغه خوېندو، مېندو، کونډو، بورو او یتیمانو د ښه ژوند او هغوي ته د انصاف ورکولو لپاره راوتلی وم، که هغه رانه پوره نه شوه، د هغې لارې شهید دې شم چې خپل ضمیر، خدای، رسول او قام ته د قیامت په ورځ سپین مخی یم.

چغې اورم، د اعدامیدو اوازونه اورم چې کس راباندې راغي لته راکوي شا ته چې "اب آپ کی باری ہے غدار وطن!" چې یعني "اوس ستا وار دی د ملک غداره!" ما وئیل "خدایه! زر ئې کړه!" خو په دغه کش مکش کښې لمر راوختلو څکه چې شا مې ګرمه شوه ما ته اندازه وشوه چې لمر را وختلو. په دې وخت کښې دوو کسانو په متونو ونیوم، په ښکنځلو ئې روان کړم، وئیل ئې چې وخت پوره شو، ستا ورځې لکه چې لا پاتې دي. خدای ګواه دی زه سخت خفه شوم چې بیا به هغه پنجره او هغه بې ارامي وي. بیرته ئې هم هغه پنجرې ته واپس کړم خو متونه مې داسې سوځېدل چې فکر کوم دوي په تلو تلو کښې انجکشن راته لګولی و.

دا به چې شلمه شپه وي کله اتلسمه خو چې پنجرې ته لاړم مخامخ د پنجرې په دېوالګي مې مورکۍ ناسته وه، په لاسونو، مخ او پښو کښې ئې کوچنی کوچني سوراخونه جوړ وو، زه مې په مور ور ړنګ شوم چې "های مورې! دا څه دي؟" وئیل ئې چې "رنځوره یم!" ما وئیل تداوی (علاج) دې ولې نه دی کړی؟"، وئیل ئې "پیسې مو نور نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرلې. "ما مې هغه دوه ورونه ورته په نوم کړل چې "هغه بیا څه کوي؟"
وئیل ئې چې هغه هم بندیان دي ستا سره په دا بل بلاک کښې دي.
چې د موره مې مخ را واړوه د پنجرې په دروازه پورې د اکسیجن غټه
شیشه وه د پاسه. لاندې زما هغه وړه لُور پرې لاندې وه، د مرګ او
ژوند سره په جنګ وه. ما ته فوځي وئیل چې "چکر لګوه. پورته شه
ګنې مور درته وژنم." زه پورته شوم خو چې قدم مې اخستو هغه به مې
په وړه لُور د پاسه په شیشه راتلو، خو د مور له وجې مجبور وم چې
په شیشه کښې بند په لُور د پاسه پښه کېدم او چکر ولګوم. ما پښه
ورو ورو ور پرېښودله، ګورم چې لُور مې فریاد کوي او که نه. خو
لُور مې فریاد ونه کړ، دوه چکر مې ولګول ، په درېم چکر په ځان نه
یم پوهـ شوی. اندازه نشته چې څومره وخت پس به په هوش راغلې وم
چې ګورم هم هغه فوځي، سي ایم ایچ هسپتال او هغه ډاکټر و. ډاکټر
بیرته هم هغه خبره کوله چې "وه ظالمه! زما خبره ومنه ویډیو سازه
کړه، ډېر غلط ځای ته راغلی یې، دا د ترهګرو زندان دی ته سیاسي
ورکر یې، چې په هره طریقه وي له دغه ځایه ځان وباسه." ما به په سر
اشاره ورته کوله چې خبر به شي. بهر حال بیا ئې په روانه چوکۍ په
تړلو سترګو او لاسونو کښېنولم، بیا ئې خپلې پنجرې ته منتقل کړم.
چې شپه شوه ناوخته کسان راغلل، دوه کسان وو په پنجره کښې دننه
ئې لاسونه سترګې را وتړل، وئیل ئې چې "نن پاکستان له افغانستانه
د کرکټ لوبه ګټلې ده په هغه خوشحالۍ کښې لږه سزا درکوو." دېوال
ته ئې ودرولم نو په ډنډو او چیترو شروع شول، تقریباً یو ساعت به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې مسلسل وهلی وم. لاړل، خو دا ځل په یو چیټر بیرته د میخونو سرونه وتلي وو، زما کوناټي او پښې تول وینې وینې پرخېدلي وو. ملا کښې مې د لوړو پوستکي ځای په ښخ وو، چې لاس مې وروړ پوستکي مې په لاس د ملا له داغونو را ایستل. اول معلومات نه وو راته، چې کوناټو ته مې لاس کړو لاس مې تول په وینو تک سور شو. ما وار خطا نه کړ، دستي مې په هغه تودو وینو د دېوال په هغه څنډه "PTM" ولیکل. کوم د چیټر ګوزار به چې په ما خطا ؤ په دېوال به لګېدلی ؤ، تک تور تور به ئې دېوال لړزولی ؤ. خو پاس کېمرې ورکړم او مخامخ ولاړ فوځي بار بار وئیل چې لیکل منع دي، ما وئیل "قسم په رب چې لیکم ئې." خو هغه لوبه لګیا وه، یو خوا بل خوا فریادونه، په زخمي پښو ګرځېدل، د پهانسی انتظار، هم داسې وینې او په سزا به شپې ورځې تېرېدې.

چې یوه شپه بیا قراره نیمه شپه شوه، زما سترګې او لاسونه ئې را وتړل، هغه د تېزو فریادونو ځای ته ئې بوتلم اول ئې په هغه پخواني زنځیر کښې را ځوړند کړم، کرنټ ئې سر ته راکړ د ستیل توپۍ ئې را په سر کړه بیا ئې په زمکه واچولم په چیترو او ډنډو ئې ښه ډېر ووهلم. له هغې پس ئې غټ جج ته پېش کړم، دغه غټ جج هم پښتون ؤ. دا فوځي کورټ ؤ، زما سره چې کوم د وکیل په ځای فوځي ؤ هغه هم پښتون ؤ غټه ږیره ئې وه. جج ته چې څنګه پېش شوم په افغانانو او پښتنو مشرانو پسې ئې ښکنځلې شروع کړې. ما ته ئې وئیل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور سوالونه ځوابونه پرېږده هغه واضحه ده چې ته غدار یې او د نورو هېوادونو څخه دې پېسې خوړلي دي خو دا راته ووایه چې ویډیو ولې نه جوړوې؟ فلاني جوړه کړه، فلاني جوړه کړه خو مونږ ئې شپږ کوو نه په قران لاس درته ږدو، خو فقط ئې مونږ G1 ته وړاندې کوو چې ته نور له سختیو بچ شې" بهر حال لهجه ئې وروو ورو نرمېده او وې وئیل چې "ګوره! زمونږ سره داسې مېډیسن شته چې درئې کړو ستا خپل اختیار به په ځان ختم شي، چې څه مونږ غواړو هغه به کوې او هغه به وایې". ما ورته ووئیل چې "ضمیر مې نه مني، دا مېډیسن راکړه چې زه په ځان نه پوهېږم چې څه کوئ هغه وکړئ". دستي سخت شو او په وکیل ئې غږ وکړ چې، پلاس راوړه، پلاس ئې راوړو زما غټ نوک ئې په پلاس کش کولو، له حد زیات زور ئې ورکولو چې "دا هم وباسم جوړوې او که نه؟" ما ووئیل "جج صېب! له دغه پړاو څخه یو ځل تېر یم، بل رقم سزا ګوره". بهر حال چې د ده سره کوم لوړ پروت ؤ، زه ئې په ستول کښېنولم هغه ئې راپورې مات کړ بیرته ئې د واپس پنجره ته کېدو امر وکړ. په پنجره کښې به مسلسل چکر لګول وو او درې وخته به سزا وه. داسې وخت تېریدو چې بیرته نیمه شپه شوه، بیا کسان راغلل زه ئې تړلی په دیکو راوویستم، چې راځه نن دې د پهانسۍ وار را رسېدلی دی. بیا مې دا ټوله شپه په ټیټ سر په وهلو ټکولو تېره کړه. چې سحر شو دوه سپي ئې راخوشي کړل، وئیل ئې چې "په سپیو ئې وداړئ! پهانسي اسان مرګ دی دا نه ورکوو ځکه چې ده د نوي نسل ټول ذهنیت ورخراب کړی دی، د پاکستان او فوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library


په حواله ئې غلطه شاعري او پروپیګنده کړې ده". سپو به مې په سر، مغزي، لاسونو او د وجود په ټولو برخو غاښونه ټینګول او پوره ئې نه خوړم، صرف ئې د فوټبال غوندې اړولم را اړولم یو خوا بل خوا.

چې دا وار تېر شو ورځ ښخه شوه، لمر سوځول زیات کړل پورته ئې کړم په مټونو ئې ونیوم روان ئې کړم. له لږ پند وروسته مې قدمونه جګ او ټیټ کېدل لکه په پټو کښې چې روان وم. پټي ئې را ـخخه خلاصې کړې وئیل ئې سترګې بند ساته. مشین ئې راشروع کړ، زما وېښتان ئې د سر، بریت او ږیرې را وخرول، نوکان چې دوه درې پاتې وو هغه ئې را جوړ کړل خو غوښه ئې ورسره پرې نیوله د ګوتو. له هغې پس ئې ووئیل چې اوس سترګې خلاصې کړه، ما چې سترګې خلاصې کړې په مقبره / هدیره کښې ولاړ وم، یو خوا بل خوا مې قبرونه وو. مخامخ ئې پینځهٔ شپږ کسان ودرولي وو، څلور کسان د ټوپکو تماچو سره ورته ودرېدل هغه ئې ووژل. له هغې پس نوی قبر کیندل شوی جوړ شوی ؤ ما ته ئې امر وکړ چې "شاباش قبر ته کوز شه!"، زهٔ ورکوز شوم، وئیل ئې چې "دا اخري وارننګ دی، ووایه! ویډیو کوې او کهٔ نهٔ؟" ما وئیل "ډز کوئ!" د قبر په غاړه ولاړ کسانٔ، په ترلي مخ او لباس ئې پهٔ وینو ککړ ؤ، څینو ګیمتي بیلچې نیولې وې، د دوو کسانو سره ټوپک تماچې وې. یو مې پښو ته ودرېد یو سر ته، بولټونه ئې کش کړل پهٔ ما ئې ټوپک ونیول. ما وئیل اوس ئې ځای دی، ما مکمله پهٔ ښکنځلو او پهٔ فوځ مرده اباد شروع وکړه. فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې کوهٔ چې غصه به ورشي دستي به ماشو ته ګوتې کړې او وبه مې وژني، خو د ډېر درز غوبل نه وروستو کسان ما ته را کوز شول او دېوال دېوال ته ئې ووهلم، عن چې بې هوشه شوم. لهٔ هغې وروسته زهٔ څو ورځې د ځان پهٔ حال نهٔ وم، اوس چې فکر کوم، کله به د کلي پهٔ مرکه کښې وم، کله به يو ملګرى راسره ؤ کله بل خو چې چا ته به زهٔ ورغږېدم هېچا به ما ته ځواب نهٔ راکولو. ما فکر وکړ چې زهٔ مړ يم، دا زما روح د خلکو سره خبرې کوي ځکه څوک ځواب نهٔ ورکوي. د دوه دېرش (32) ورځو پورې چې زهٔ حساب کوم ما مزاحمت وکړ.. خپل ننګ، پښتو او افغانيت ملګرتيا څهٔ نهٔ څهٔ راسره کوله، خو لهٔ هغې وروسته زهٔ هېڅ پهٔ ځان نهٔ پوهېدم. چې کله د څوارلسم (14) اګست ورځ راغله، توپې شروع شوې، هوائي فائرينګونه پېل شول. ورو ورو مې پهٔ خبره سر خلاصېدو، د ځان پهٔ حال راتلم چې يو څنور او ډېرور کس راته ودرېدو، زما سترګې پوزې هر څهٔ اوبهٔ وو. دغه کس د تورې چاى پياله راته نيولې وه، وئيل ئې چې "د سوات يم، سخت درسره زور بېړم خو مکمل بې وسه يم، تهٔ زړهٔ مهٔ خوره پهٔ هر صورت به ستا ويډيو ميډيا ته نهٔ ځي، دوې دې جوړوي." ما زړهٔ کښې ووئيل چې "اخ! د هغه جج د مېډيسنو قصه لکه چې رښتيا وه"، ځکه زهٔ دا څو ورځې مسلسل د ځان پهٔ اختيار کښې نهٔ وم. پهٔ هر حال زما پښتنو ورونو! زهٔ ډېر کوشش کوم چې ټول رښتونی حال درته وليکم، خو بيا هم کهٔ لهٔ ما کمې بېشې راتلې بخښنه کوئ، ځکه چې هغه ساعت عجيبه ؤ سيکنډ پهٔ منټ به حالات بدلېدل، خو زهٔ بيا کوشش

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې په ډېرو لنډو ټکو کښې خپل قام ته د پښتنو سره د پاکستاني فوځ په زندانو کښې روان ظلم ولیکم.

په فوځي قېد کښې د شپږ نیمو میاشتو قیامت څخه پس د ورځې چغې شوې چې "ودرېږئ! مخونه دېوال طرف ته کړئ". زۀ چې ودرېدم د شا لۀ خوا غږ شو چې "کیږې درواخله!" ما چې کپړې ولیدې خپلې جامې مې وې، اوتو شوې هم وې. ما فکر وکړ چې هم دلته لۀ میرانشاه څخه دې هم دا اوس خوشي کوي خو چې لاسو ته ئې امریکنۍ هتکړۍ راوچولې او مکملې ئې ټینګې کړې. زما د لاسو وینه ئې ودروله، ګوتو ته نۀ تله، سترګې او مخ ئې بېخي سخت را بند کړل روان ئې کړم. دوه ساعته ئې په پښو ودرولم، بیا ئې ټېنک/ ټانک (Tank) ته ور وخېژولم، ډېر په خوارۍ ور پورته شوم څکه چې موټر نۀ ؤ د امریکا لۀ خوا ورکړل شوی هغه غټ ټانک ؤ. ما غصه ور وکړه چې هیلي کاپټر (Helicopter) ته مې خېژوئ چې موټر ئې کښېنولم. ډېر په خوارۍ په ګوره ملا ئې کښېنولم. زړۀ کښې مې ووئیل چې زما هغه دوه ملګري به چرته وي؟ تر هغو مې د یو ملګري ټوخې وېېژند ما وئیل شکر دا خو دلته دی. چې ګاډي حرکت وکړ نو اندازه نۀ کېده چې کوم خوا ځي؟ زما لاسونه سخت په عذاب وو. کله کله به مې غاړې ته په ما د پاسه ولاړ فوځي د کمربند پټۍ مغزي ته راتله، ما فکر کوۀ چې پهانسۍ ته تیارۍ روانې دي خو تقریباً د 3 – 4 ساعته سفر وروسته موټر په یو ځای ودرېدو، خاموشه خاموشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې زه ئې د ټانک (Tank) څخه ورکوز کړم نو په ما اواز وشو چې "کیله منه! فلانی یم". دا کس زمونږ د وزیرستان د سول حکومت تحصیلدار ؤ، هغه رانه تصویران وویستل نو ئې خپل سول موټر ته پورته کړم خو لاسونه او سترګې مې هغسې بند وو. لږ وخت پس ئې زما دواړه ملګري صدر زکیم وزیر او عیدرحمان وزیر هم دغه موټر ته را پورته کړل. موټر چې حرکت وکړ زمونږ سره موټر کښې یو د میرانشاه د جېل فوځي هم ناست ؤ، تر هغې زمونږ د وزیرستان د پولیسي حکومت مشر غږ پرې وکړ چې "هتکړۍ ترې ایسته کړه او سترګې ور خلاصې کړه". هغه فوځي هم داسې وکړل هتکړۍ او ټوپۍ ئې ټولې کړې له موټره کوز شو. دا ځای د بنو ستر فوځي کېنټ ؤ، مونږ چې څنګه سترګې خلاصې کړې نو دې خپلو دریو ملګرو د یو بل څخه مچې واخستې، سره غاړې وتلو، سترګې د ټولو له اوښکو ډکې وې. ما دوي برند برند کتل چې سلامت دي مات ګوډ یا لېوني خو نه دي، دوي زه کتلم. موټر چې له کېنټ څخه ووتو بهر لس اته ګاډي پولیس ولاړ وو هغه راسره روان شو. د بنو د سنټر جېل خوا ته ئې روان کړو، د لږ سفر وروسته بنو سنټر جېل ته ورسېدو. پولیسو وئیل چې فوځ مونږ ته په MPO 3 کېس کښې حواله کړي، مونږ مو زر خوشي کوو. هلته چې له موټر څخه کوز شو نو اول سترګې مې په خپل زنداني ملګري حنیف پشتین ښخې شوې، دا هغه کس دی چې د څلور کالو او دریو میاشتو پس له هم دغه سنټر جېل څخه خوشی شوی دی خو مونږ خبر نه یو. هله خدایه! دا بل رنګ خوشحالي وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو خوا مونږ عدالتي نظام ته ور وسپارلي شو او بل خوا مو حنیف پښتین ولیدو چې له زندانه راخوشې شوی دی. بهر حال له یو بل و جارېدو، خو پولیس بار بار سختي کوله چې "زندان ته داخلېږئ" داخل شو خو مونږ ئې دلته بیا هم په ټول جېل کښې سخت او کسوري چکیاتو یعني کوچنیو پنجرو ته واچولو. ملاقات راباندې بند ؤ. ټیلیفون (Telephone) منع ؤ، د پنجرې څخه را ویستل منع وو خو دومره وه چې خبرې کېدې شوې، ګپ شپ هم لګېدې شو او ما به کله کله زمزمې هم ټپې په خلاص غږ کولې او هغه هم د حکومت خلاف.

شپږ اووه شپې مو په بېلابېلو پنجرو کښې وکړې، له هغې وروسته ئې درې واړه ملګري زه، زکیم او عیدرحمان یوې پنجرې ته واچولو. بېخي سره خوشحال وو یو بل ته، داسې نه محسوسېده چې مونږ په جېل کښې یو، مسلسل دوه درې شپې مو په ویښه په مجلس سره تېرې کړې. پنجره بېخي وړه وه، چې یو ملګری به خوځېدو په بل به لګېدو. حمام لیټرین په دغه چکۍ کښې دننه ؤ خو دېوالونه یا پرده ئې نه وه، لکه په طبعیت چې د انسان د عزت نفس سره لوبې کوې. خو مونږ درې واړه یو بل ته له ورونو نږدې وو، په هر حال مو ګزاره سره کوله، درې واړه د فوځي زندان له سختیو را تېر وو نو دا دلته سختي راته سختي نه معلومېده. خو چې شپه به شوه زما به ساه بندېده، دواړه ملګري به راسره په عذاب وو. دوي دواړو به د جېل پنجره ګړبوله، احتجاج به ئې کوه چې "زمونږ ملګری مري هسپتال ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ئې یوسئ!" خو هېڅا به زمونږ غږ نهٔ اورېدو. ورته ومې وئیل چې دومره مې لهٔ پنجرې بهر کړه چې فقط دوه درې تېز قدمونه واخلم، خو وئیل به ئې "چې مړ هم شې لهٔ پنجرې د بهر راویستو اجازه نشته او نهٔ داسې ښهٔ ډاکټر شته چې ستا علاج وکړي". بهر حال یوه میاشت چې هر رنګ وه پوره شوه. د ورځې پولیس راغلل چې هله تیاري کوئ ستاسو د جېل وخت پوره شو، رهائي مو دهٔ. مونږ زر زر ځانونه تیار کړل چې کله بهر لهٔ هر پړاؤ څخه تېر شو خو چې د جېل په لویه دروازه ور بهر شو نو پولیس ولاړ ؤ، بیرته ئې زمونږ لاسونو ته هتکړۍ را واچولې، څلور پینځهٔ مقدمې ئې راباندې جوړې کړې وې، وئیل ئې دې کښې مو د تیولو امر شوی دی. بس موټرانو ته ئې ورپورته کړو، ستې تهانې ته ئې یوړو، شپه مو پنجره کښې تېره کړه، د ورځې په مخ ئې عدالت ته پېش کېدو ته روان کړو، چې عدالت ته ورسېدو نو د PTM دومره ملګري راغلي وو چې شمار ئې نهٔ کېدو ټول عدالت ډک ؤ. جج امر وکړ چې د دغه بندیانو کېس زر زر وکړئ هسې نهٔ چې کوم ګډوډی را منځ ته شي. د ترهګرۍ عدالت ته ئې وړاندې کړو، جج ډېر مشر سړی ؤ، زمونږ لهٔ خوا دولس وکیلان ورمخامخ شول، جج دستي زما غزل شروع کړ:

"ستا په ښلتون دومره غمژن یمه چې حد نهٔ لري"

پهٔ هر صورت شپږ پینځهٔ ورځې ئې نور هم زندان ته د لېږلو امر صادر کړ. بهر چې ئې را وویستو نو ملګري رانه چاپېر وو، اخر زما سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library


پهٔ خپل وزارهٔ ښځې شوې، دا وزارهٔ مې هم د دې مبارزې کلک ملګری ؤ چې رانیزدی شو سترګې ئې ډنډ وې خو ما ته ئې خندل. لهٔ روغبړ وروسته مې د مور تپوس ترې وکړ چې "مور مې ژوندۍ ده؟" وئیل ئې "هو!" د ټول کور کلي وطن حال ئې راکړ او زېرې ئې راباندې وکړ چې خدای پاک لورکۍ هم درکړې ده. نو زیات خوشحال شوم او ورته مې ووئیل چې لور به مې "زرغونه انا" نومېږي. دهٔ ووئیل چې "سمه ده! زهٔ ځم چې سبا مورکۍ راولم چې درسره ووینې، ځکه چې هغې ته سل رنګه خبرې شوې دي چې زړهٔ ئې ډاډه شي". زهٔ لهٔ دې پس چې ستې تهانې ته راوړل شوم نو ټوله شپه مې د مور د راتګ پهٔ خوشحالۍ کښې تېره کړه. چې سحر شو نو پنجرې ته کس راغی چې ځان برابر کړه راځه د باندې کوټې کښې به لهٔ مور سره ووینې. مور مې چې راغله زما کوچنۍ لورکۍ چې ما ته لهٔ ګردې نړۍ ګرانه ده هغه هم پهٔ وړو وړو قدمونو را روانه وه، چې زهٔ مورکۍ مې لهٔ یو بل سره ملاو شو نو د هغه وخت د لیکلو توان نهٔ لرم...

بس درې شپې مو دلته ستې تهانې کښې وکړې. وار پهٔ وار به ملګري ملاقاتونو ته راتلل، دوایاني او علاجونه ئې نور هم راباندې تېز کړل، دلته درې ورځې ډېرې پهٔ خوند تېرې شوې. لهٔ هغې وروسته ئې بیا سنټر جېل ته ولېږلو خو دا ځل بهر پهٔ عام جېل کښې لهٔ نورو خلکو سره پهٔ 8-1 بارک کښې قېد شو، بس دلته بیا ښځې دا نهٔ محسوسېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا جېل دی. پینځلس شل ورځې پس مې دا دوه ملګري هم خوشي کړل شول، زهٔ پاتې شوم زما کېسونه لږ زيات وو.

خو د لږو شپو پس ئې زهٔ بيا هم هغه پنجرې ته منتقل کړم کومو کښې چې اول بند وم. بېخي زياتی ئې راسره پېل کړی ؤ، ټول عمل غېر قانوني روان ؤ راسره خو چې دوه اوونی تېرېدې نو ماښام کس راغی چې "هله راوځه! د خوشي کېدو امر دې وشو" ما ووئيل خدايه! دا ماښام، فکر مې وکړ چې د پنجاب زندان ته به دې لېږي خو د جېل نهٔ ټولو پړاوونو چې را تېر شوم بهر نور پوليس نهٔ وو، دوه درې ملګري راغلي وو. ماښام ؤ موټر ئې تيار ودرولی ؤ، پهٔ ډېرې تادی ئې موټر کښې کښېنولم او موټر ئې پهٔ تېزۍ روان کړ. دا وخت بېخي سخت ؤ، د غلامۍ احساس راته دومره راتېز شو چې ما پهٔ دې دومره نهه مياشتې بند کښې نهٔ وو ژړلي مګر دلته مې د قام پهٔ بې وسۍ او غلامۍ لهٔ سترګو بې اختياره اوښکې راغلې. خېر ملګري بېخي خوشحال وو، کور کلی راته پهٔ انتظار ؤ چې راځي. مګر ما چې تپوس وکړ پهٔ کوټه کښې د شهيد ارمان لوني تلين غونډه را جوړه وه، فيصله مو وکړه چې اول به د کور د تلو پهٔ ځای د ارمان تلين ته ځو بيا کورونو ته. هم هغسې مو وکړل د کوټه پهٔ مخ مو سفر پېل کړ، نور مخکښې حالات پښتنو د میډیا لهٔ لارې کتلي دي ليکلو ته اړتيا نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ؤ زما خپل داستان چې شخصي په ما تېر ؤ خو زما سره یو خوا بل خوا په پنجرو کښې د وزیرستانۍ مېندو نور هم لسګونه زامن د پنجابیانو په بند محکوم وو. د هغو نورو ټولو د ترهګرۍ کېسونه وو، په چا به الزام ؤ چې تا طالب ته لاس ورکړی، چا ته به ئې وئیل چې تۀ د طالب سره په موبائل غږېدلی یې، څوک طالب ته د ډوډۍ د ورکولو په جرم، څوک طالب ته د شپې ورکولو په جرم راوړل شوي وو. ما لسګونه داسې کېسونه او داسې وزیرستاني ځوانان ولیدل چې په زور ترې یا ترهګر جوړېدل او یا د حکومتي ادارو سورس، جاسوسان. خو دا یوه قصه به ئې زۀ د بېلګې په توګه دلته ولیکم.

زما سره یو د کم عمر وزیرستانی ماشوم قېد ؤ. د هغۀ خوټې ورماتې شوې وې، چغې به ئې وهلې چې سخت درد برېږم، هغۀ ئې اتۀ څلوېښت (48) شپې ورځې وېښ ودرولی ؤ، رنګ رنګ سزاګانې ورکړل شوې وې. د هغۀ خپل جرم دا ؤ چې په لاره طالبان پرې راغلي وو مازي ئې سترې مۀشي ورسره کړي وو خو دۀ ته ئې سزا په دې وجه ورکوله چې تۀ اوس دا ومنه چې ما ریموټ بمونه فوځ ته ښخ کړي دي ور چاودلي مې دي، په فوځي چاوڼیو مې بربدونه کړي دي. رنګ رنګ جرمونه ئې پرې منل، هغۀ به منل نۀ. دوي به دا سزاګانې ورکولې. د ټولو کم عمره وزیرستانیانو ماشومانو څخه به ئې په زور دا ویډیوګانې جوړولې چې ووایه چې زما سره طالبانو دا کارونه کړي دي، بلېک مېل کول به ئې، بیا به ئې چې بلېک مېل کړل نو دوي به خپل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سورس په شکل استعمالول. په نورو خلکو به ئې ګواهانې پرې کولې چې څۀ به د دوي خوښه وه هغه کارونه ئې پرې کول. دوه درې سورس د فوځ او ادارو لپاره چې کار کوي، هغه د ټارګټ کېلېنګ یعني هدفي برید ګرئې راوړي وو. په هغوي پسې د فوځ برېګېډئیر په خپله راغی او دوي ئې ډېر په پروټکول له هغه جېل څخه خوشي کړل. دغه کسان هم وزیرستانیان وو مګر د حکومتي ادارو لپاره ئې کار کولو. چې هر وزیرستانی ځوان به دوي قېد ته راوړلو نو په زور زبردستی او وهلو ټکولو به ئې جرمونه پرې منل. بیا چې کوم به دوي انټرمېنټ سنټر ته لېږل هغه به ئې تر پینځۀ ویشت (25) کالو پورې بندیان کول، کومو به چې د دوي قصه منله هغه به دوي د ځان لپاره سورس جوړول. لنډه دا چې دغه جېل د ترهګرۍ د ختمولو او د سزا جزا ورکولو لپاره جوړ ؤ، خو دا جېل د ترهګرۍ د جوړېدو د مرکز په څېر استعمالېدو. زۀ له خپل خدایه ډېر شکر ګزار یم چې په ما ئې دا هر څۀ عملي ولیدل، خپلې مبارزې ته ئې لا هم چمتو کړمه ځکه چې کوم ظلم جبر هلته د وزیرستاني ځوانانو سره کېدو د نړۍ په تاریخ کښې ئې ثاني نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلورم څپرکی

## د ګیله من وزیر د زنداني داستان یو نظم

●

راشه! چې هېر دې شي د ظلم هر قانون پښتونه!
چې در نه هېر کړي هغه یزید، نمرود، فرعون پښتونه!
په ما هم دغه جبر تېر دی نن پرون پښتونه!
مختصر واوره د "فوځي زندان" مضمون پښتونه!
ای! دغه قید کله د عام په شان زندان په څېر ؤ؟
دغه زندان سم د ژوندو د قبرستان په څېر ؤ
یوه وړه غوندې کوټه وه د بکسې په رنګه
زه پکښې قید ومه د مړي د ډهانچې په رنګه
د دې کوټې به وینې وینې دېوالونه مات وو
له ډېر تنګون نه پرې قېدیانو خپل سرونه مات وو
د دې کوټې په دېوالو پورې مازغه ښخ وو
د انسانانو وینې، ځوې او وېښته ښخ وو
په دې کښې تش په اسوېلیو عبادت بندېز ؤ
په دعاګانو، های هُو په تلاوت بندېز ؤ

دومره ګرمي به وه چې سم به پۀ خولو کښې لوند وم
خو خوله دومره لکه سم چې پۀ اوبو کښې لوند وم
دغه وړه کوټه به ټوله لۀ مېږو ډکه وه
ټوله لۀ ماشو، خشراتو، تکليفو ډکه وه
بس لنډه دا چې دا لۀ هر قسمه سختو ډکه وه
پۀ دې کوټه کښې وه پۀ خوب او پۀ ارام پابندي
خوب ارام څۀ چې وه د خداى پۀ تش سلام پابندي
پوره يوه مياشت ما پۀ ولاړه ګرځېدو تېره کړه
دوې شپه او ورځ پۀ ما پۀ چغو او نعرو تېره کړه
چې پۀ ولاړه به مې سترګې پټېدې لۀ خوبه
لا به پۀ ما چې ناڅاپې چپې راتلې لۀ خوبه
نو دوې به سترګو ته ترښې تودې اوبۀ را توې کړې
لکه د اور ګرمې اوبۀ به ئې پۀ زړۀ را توې کړې
بيا به ئې پښې زما ور ويستې د پنجرې نه بهر
زما تلې به ئې ور کش کړل د پنې نه بهر
بس څو کسان به وو دستې به شول شروع پۀ وهل
زما پۀ پښو پورې ئې شپږ اتۀ لوړ ماتول
بيا به پۀ هغه وينو ډکو پښو ولاړ ومه
لاس تر شا بند او سترګې بند، تر څو شپو ولاړ ومه
چې به يوه وخت ډوډۍ راتله لۀ دې قصو ډکه وه
ټوله پۀ شا مخ لۀ سرو کښيو او چينجو ډکه وه
ما سره څنګ پۀ څنګ يو بل بې ګناه ځوان قېدي ؤ
د بل ځاى نۀ ؤ هم د دې وزيرستان قېدي ؤ
فوځ پۀ زور د پېرې [illegible] کړې هېڅ بد ئې نۀ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library


سزا ئې دومره ورکوله چې هېڅ حد ئې نۀ ؤ
افقف د هغه ځوان هغه نعرو لۀ ما نه زړۀ وړی دی
هغه فریاد ، هغه سورو لۀ ما نه زړۀ وړی دی
خو دغې یوې قصې ئې سم لۀ ما نه زړۀ ویستی دی
د بې خودۍ حال کښې ئې دا چغه بار بار وهله
چې "ظالمانو! د الله او د رسول پۀ خاطر
زۀ بې ګناه یم چې وړه لُور مې یتیمه نۀ کړئ!"
چې دا میاشت تېره شوه یوه بله د تختې کوټه وه
پۀ دې کښې بل رنګه ماحول ؤ د بجلۍ کوټه وه
د دې کوټې پۀ دېوالو عجب شیان ځوړند وو
پۀ چاړو غوخ غوخ حلال شوي انسانان ځوړند وو
یو خوا جټکې، پلاس د نوکانو د ویستو سامان ؤ
بل خوا ځنځیر ؤ، د پهانسۍ ځوړندېدو سامان ؤ
زما لاسو ته ئې تر شا هتکړۍ واچولې
بیا ئې زما پۀ مخ هغه توري پټۍ واچولې
پلاس به ئې را واخستو لۀ ما به ئې نوکان ویستل
دغه نوکان ئې تش پۀ جرم د افغان ویستل
د کوټې لۀ چته را ځوړند ؤ یو سپین دروند ځنځیر ؤ
د وینو بوې ترې تلو لړلے ټول پۀ خون ځنځیر ؤ
پۀ دې ځنځیر کښې به زۀ نیمه نیمه شپه ځوړند وم
لاس، یو خوا پښې، بل خوا سر، بل خوا عجیبه ځوړند وم
د مخ لۀ خوا ئې د کرنټونو پۀ تارو وهلم
شا ته پر ملا ئې پۀ چیترو او ډنډو وهلم
خو خدای ګواه دی ما پۀ هر حال کښې دا شعر وئیلو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ عام وجود یم، خاورې کېږم به فاني به شمه
خو کهٔ پهٔ ننګ د وطن مړ شوم قیمتي به شمه
قامي لښکر ته زهٔ د سر او ماله تېر ور ګډ یم
نو پهٔ دې نهٔ یم چې پهٔ دار یا زنداني به شمه
ما کهٔ پهٔ ننګ د افغان کلکه تُوره وتړله
اصلي وارث د خوشحال خان او ابدالي به شمه
کهٔ مې د ستا پهٔ شوکېدلي اوربل ننګ نهٔ وکړو
د وطن پېغلې! خپل تاریخ ته تهمتي به شمه
کهٔ د بند وینه مې تویه شوه پهٔ حق د مظلوم
ځیله منه! افتخار د خپل پردي به شمه

پهٔ دې کوټه کښې یوه د اوسپنې چوکۍ پرته وه
پهٔ دې چوکۍ ګېر چا پېر توره زولنې پرته وه
بیا ئې پهٔ دغه چوکۍ وتړلم، سم ئې بند کړم
ښخي مې ساه اخستې نهٔ شوه سم محکم ئې بند کړم
دغه چوکۍ لهٔ لاندې ورو ورو ګرمېده را پسې
بوي به راتلو د تن جامه به سوځېده را پسې
پهٔ دې چوکۍ ئې لګول د برق پهٔ تار شاټونه
د اور لمبې وې، راکول به ئې بار بار شاټونه
ځینې سزاوې خو پهٔ خُلهٔ د یادېدو نهٔ دي
ځینې لمحې د یادېدو بیانېدو نهٔ دي
دوي هڅه کړه زهٔ ئې پهٔ مارانو لړمو خوړلم
ژوندی انسان وم پهٔ ژوندوني ئې پهٔ سپو خوړلم
یو ډېروم سړی راتلو چې خوشخبري درکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


نن به سحر د اذانهٔ په وخت پهانسي درکوم
زهٔ به خوشحال شومه چې شکر دی چې زر مړ شمه
چې بې ننګي را نه و نهٔ شي بهادر مړ شمه
بس هره شپه به ئې وئيل چې نن تيار وسه!
د پهانسۍ وخت دې را نزدې شولو بېدار وسه!
ما ته به بيا مې مور، ماشومه لُور را ياده شوله
خو د وطن به هره بوره مور را ياده شوله
ما وئيل کهٔ مرم شکر پهٔ ننګ د مظلومانو مرمه
زهٔ د وطن پهٔ کونډو، بورو، يتيمانو مرمه
چې به سحر شو پهٔ ديکو به ئې روان کړمه زهٔ
بس پهٔ چيترو او ډنډو به ئې روان کړمه زهٔ
سترګې مې بند پهٔ زخمي پښو به ئې روان کړمه زهٔ
د لږ مزل نه پس عجبه حادثه راغلله
هر خوا قبرونه وو د مړو هديره راغلله
زما و مخ ته ئې ډېر د کم عمر ځوانان و وژل
پهٔ يو ساعت کښې ئې څلور پينځهٔ کسان و وژل
تيار ؤ جوړ ؤ، زهٔ ئې لاندې ژور کان ته کوز کړم
دوي ظالمونو پهٔ ژوندوني قبرستان ته کوز کړم
پاس ئې پهٔ غاړه پهٔ تړلي مخ کسان ولاړ وو
پهٔ وينو رنګ د انسانانو قصابان ولاړ وو
ځينې وې لاسو کښې ګيمتې ځينې بيلچې نيولې
ځينې وې زما پهٔ سر توپکې، تمانچې نيولې
وئيل ئې چې اوس وايه! زموږ قصه منې او کهٔ نهٔ؟
اخري وار ننګ دی دا خپل سر دې ساتې او کهٔ نهٔ؟

خو ما ور غبرګه کړه چې شا به شئ! ګزار کوئ!
زر زر مې و وژنئ! د څهٔ شي انتظار کوئ؟
ای! کهٔ زره زره، ټوټه ټوټه، نیم نیم شمه
افغان پښتون یمه قسم دی کهٔ تسلیم شمه
بس لنډه دا چې دوي پرې پوې شول چې یو نهٔ مني
ای! دغه ځوان پهٔ هوش هواس زمونږ قصه نهٔ مني
بس یو څو ساعته شوم بې هوشه، زما حال بدل شو
زما پهٔ ځان اختیار شو ختم، زما خیال بدل شو
داسې ماحول جوړ شو چې شو را سره ورور پهٔ قېد کښې
زما وراره، ماشومه لُور او زما مور پهٔ قېد کښې
لهٔ یو خوا، بل خوا د چیترو اوزونه راتلل
ما ته د ورونو او وریرونو فریادونه راتلل
پس لهٔ دې بعده چې دوي ما باندې هر څهٔ وئیلي دي
زهٔ پهٔ دې پوې نهٔ یم چې ما 'بد' او کهٔ 'ښهٔ' وئیلي دي
نو پښتنو ورونو! زما دا مختصر بیان وُ
دا پهٔ ما تېر پهٔ 'فوځي قېد' کښې د محشر بیان وُ
خو خدای ګواه دی، ای! لهٔ ما څخه دا قران پوره دی
دغه قسم لهٔ ما پهٔ هر یو ه مېدان پوره دی
پهٔ دې اخر وخت کښې ما د خپل پرهر پهٔ وینو
د تور دندان پهٔ دېوال دغه بیت لیکلی دی چې
'کهٔ وم ژوندی د ازادۍ د اتڼ برخه به یم
کهٔ چرې مړ ومه نو زېرې مې تر ګوره راوړئ!'
څکه چې ما و خپل اولس ته پهٔ بار بار وئیلي
دا مې پهٔ شعر او پهٔ ټپه کښې دي پهٔ جار وئیلي
چې یا 'وطن' او یا 'کفن' دا مې شعار دی
پښتانهٔ را ویښؤمه دا مې کار دی
ما د حق پهٔ لار قبول دی پهٔ سر سترګو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**